# د نبي کريم ﷺ نصيحتونه

ترجمه

## ۵۵ وصية من وصايا الرسول ﷺ


تالیف: شیخ حمزه محمد صالح عجاج

مترجم: مفتی عبدالعظیم ترمذی صاحب






مکتبه رحمانیه محله جنګی پېښور
موبائل 0336-3100065

# فهرست مضامين

| مضمون | صفحه |
|---|---|


تصوير ........ ۷
تقديم ........ ۸
مقدمة المؤلف ........ ۹
عرض د ناشر ........ ۱۱
اسلام قبول کړئ! ........ ۱۲
توحيد اختيار کړئ! ........ ۱۳
علم حاصل کړئ! ........ ۱۴
د مظلوم مدد کوئ! ........ ۱۷
الله تعالى ته سجدې کوئ! ........ ۱۸
صدقه ورکوئ! ........ ۱۹
د ځاښت دوه رکعته کوئ، اوهره مياشت
کښې درې روژې نيسئ! ........ ۲۱
صلوة تسبيح کوه ........ ۲۳
الله تعالى نه د عافيت سوال کوه! ........ ۲۴
روژې نيسئ! ........ ۲۸
توبه کوئ ........ ۳۰
د اسلام په ارکانو باندې عمل کوئ ........ ۳۳

| صفحه | مضمون |
| --- | --- |
| ۳۵ | مور پلار سره ښه سلوک کوئ! |
| ۳۷ | د مونځ حفاظت کوئ |
| ۳۹ | ښه اخلاقو سره ملاویږئ |
| ۴۱ | د مونځ نه پس دا دعا کوئ! |
| ۴۴ | د الله تعالی ذکر کوئ! |
| ۴۶ | د خپل نفس اصلاح کوئ! |
| ۴۸ | د الله تعالی اطاعت کوئ، اود ګناهونونه ځان ساتئ! |
| ۴۹ | د سحردوه رکعته سنت کوئ! |
| ۵۱ | ۲۱: د مونځ دوران کښی اخوا دیخوا مه ګورئ! |
| ۵۲ | خپل ایمان کښی اخلاص پیدا کړئ! |
| ۵۳ | که هرځنګه حاجت پیښ شی نودا عمل کوئ! |
| ۵۴ | صلوة حاجات اود هغې دعا |
| ۵۵ | د نفس د آفتونو نه ځان اوساتئ |
| ۵۶ | څوک چه د الله په نوم باندې اوغواړی هغه ته ورکوئ |
| ۵۷ | د الله تعالی په نوم باندې سوال مه کوئ! |
| | سوره فاتحه لولئ! |
| ۵۹ | د لاندې ورکړې شوې سورتونو تلاوت ډیر کوئ! |
| | د سورة اخلاص، اوسورة بقره اخری ایتونو او د ایت الکرسئ فضائل |
| ۶۳ | د سورة اخلاص او معوذتین فضیلت |

| مضمون | صفحه |
| --- | --- |
| سنت ژوندی کوئ | ٦۴ |
| دنيا کښې زهد اختيار کړئ | ٦٦ |
| د نبي کريم ﷺ په دنيا کښې زهد | 〃 |
| د دوزخ نه پناه غواړئ! | ٧٠ |
| د جنتي جوړيدو د پاره دا طريقه اختيار کړئ! | 〃 |
| د استخارې مونځ کوئ! | ٧١ |
| د استخارې فائدې | ٧٢ |
| د پريشانئ اوتکليف وخت کښې دا دعا کوئ! | ٧٣ |
| ډيرې سجدې کوئ! | ٧۴ |
| خلقوباندې خوراک کوئ، سلام کوئ اود شپې مونځ کوئ | ٧٦ |
| ګاونډی سره ښه سلوک کوه | ٧٧ |
| مسکينانوسره مينه کوئ | ٧٩ |
| خپل زړه کښې غنی پيدا کړئ | ٨٠ |
| تقوی اختيار کړه | ٨١ |
| د قران پاک تلاوت کوه | 〃 |
| مال خرچ کوه | ٨٢ |
| د پريشانئ اوقرض اداکولو د پاره دا دعا لولئ | 〃 |
| د اودهٔ کيدونه مخکښې دا دعا لولئ | ٨٣ |
| چه د شپې خوب نه درځي نودا دعا لولئ! | ٨٦ |
| قيامت ته نزدې وخت کښې دا واپئ! | ٨٧ |

| صفحه | مضمون |
|---|---|
| ۸۸ | كه يوې ډلې كښې بد د خبره اوشي نو توبه او كړئ |
| ۸۹ | تسبيح لولئ! |
| ۹۰ | استغفار كوئ! |
| ۹۲ | جنت كښې ونې اولګوه! |
| | لړمانانو (زهريله ځناورو) نه بچ كيدو دپاره دا عمل كوئ |
| ۹۳ | د زهريله ځناورو دچيچلو د سورة الفاتحه په ذريعه باندې علاج |
| ۹۴ | د قرض اداكولو اود رزق د فراخئ د پاره دا دعا كوئ |
| ۹۶ | په ښه كارونوكښې خرچ كوئ! |
| ۹۹ | سحر، ماښام اود كورنه وتلووخت كښې داوايئ |
| ۱۰۲ | د عهدې سوال مه كوه! |
| ۱۰۳ | كورونونه جماتونه جوړ كړئ (يعنى مونځ د پاره پكښې ځائې مقرر كړئ) |
| ۱۰۴ | خاتم الوصايا |
| ۱۰۵ | لس نصيحتونه |

ناشر

مكتبه رحمانيه

محله جنګى قصه خوانى بازارپشاور

بسم الله الرحمن الرحیم

# تصویر

الله تعالی مونږته په هغه ټولوحکمونوکښی دخپل رسول حضرت محمد ﷺ داطاعت حکم فرمائیلي دي، کوم چه حضور ﷺ مونږته دخپل رب دطرف نه رالیږلي دی.اومونږته دحضور ﷺ د اقتداء اودهغه په لاربانديي دهدایت موندلوحکم فرمائیلي دي، اودنبی کریم ﷺ سنت که هغه قولی وی اوکه فعلی دنوریوداسي چینه ده چه دهغي په ذریعه مونږددین مقصدونو بانديي پوهیدو اودشریعت دحکمونوتفصیل معلومولوباره کښی راهنمائی حاصلولي شو.

اودکوم صحت چه دحضور ﷺ دقول یافعل نه ثابت وی نوهغه پخپله بانديي یوثابت شوي حجت دي، اګرچه دهغه حکم په ثبوت کښی دقران کریم څه ښکاره ایت نه وی نازل شوي. څنګه چه دحضور ﷺ داارشاد کوم چه دحضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت کړي شوی حدیث کښی ذکردي چه: دیوسړی په نکاح کښی ترور او وریره نه شی جمع کیدي، اونه پکښی خورزه اوترور قران کریم کښی دنبی کریم ﷺ دسنت (قولی فعلی) دحجت کیدودپاره ارشاد فرمائیلي شوي دي.

,,وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ،، (سوره الحشر ۲۸)

ټولومسلمانانودپاره ضروری ده چه دخپل نبی ﷺ سنت مضبوطئ سره خپل کړی، اوددي مطابق عمل اوکړی، اونورو ټولو مسلمانانوکښی دسنت خورولودپاره کوشش اوکړی، اوددي

کتاب مقصد دې لار کښې صحیح قدم اوچتول دی. والله خیرالموفق، الله تعالی دې توفیق راکړی. (احمد محمد طاعون)

# تقدیم

ټول تعریفونه دالله تعالی دپاره دی، اوسلام دې وی دهغه په منتخب کړې شوې بندګانو باندې، اوسیدنامحمد ﷺ باندې، چه دهغه باره کښې دالله تعالی ارشاددې.

..وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٧﴾ ،، (سورة الانبياء ۱۷)

اوبل ځائې کښې ارشاددې.

..لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ﴿١٢٨﴾ ،، (سوره التوبه ۱۲۸)

حضور ﷺ په خپل ټولواعمالواواحوالوکښې ښه والی طرف ته هدایت کونکې اوهریوې بدئ نه منع کونکې وو. حضور ﷺ دالله تعالی طرف ته دعوت ورکونکې اوروښانه ډیوه وه.

دامجموعه د حضور ﷺ په پنځه پنځوس نصیحتونو باندې مشتمل ده. کوم چه شیخ حمزه محمد صالح عجاج د احادیثو دکتابونو نه منتخب کړی ده. چه داټولومسلمانانودپاره دنصیحت کاراوکړی. الله تعالی دې مرتب کونکی ته دټولو مسلمانانو دطرف نه دخیرجزا ورکړی. امین. بې شکه هریوکس ته دهغه دعمل مطابق جزاملاویږی، دنیک عملونووالادښه او بدعملونووالادبدې جزامستحق وی.

دخپل رب کتاب اولولئ اودې کښې فکراوغوراوکړئ، الله تعالی په سورة انعام کښې لس، سورة الاسراء کښې دولس

نصيحتونونه علاوه دقران كريم په نوروسورتونوكښې هم نصيحتونه ارشاد فرمائيلې شوې دى.

دغه شان دحضور ﷺ نصيحتونه لوستلوسره دې كښې غور اوكړئ اودامضبوطئ سره اونيسئ. پس څوك چه دحضور ﷺ په لاربا ندې روان شو، حقيقت كښې هم هغه كامياب دې، څوك چه ددې لارنه جداشو، هغه په نقصان كښې دې.

,,وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟،، (سوره الحشر ۲۸)

الله تعالى دې مااوتاسوته په ښه خبروباندې دعمل كولو توفيق راكړى، چه مونږهغه كوشش كونكوكښې شامل شو، دكومودپاره چه الله تعالى داسې جنت تياركړې دې، چه دهغه ځائې نه به هغوى راوتل نه غواړى، اوهغوى ته به هغه ټول نعمتونه حاصل وى، كوم به چه هغوى غواړى.

سلامتى دې وى دالله تعالى دطرف نه راليږلې شوې ټولو رسولانوباندې.

وسلم على المرسلين والحمد لله رب العالمين.

دخپل رب درحمت طلبگار

احمدعبدالجواد

# مقدمة المؤلف

الحمدالله رب العالمين الصلوة والسلام على سيدنا محمد اشرف المرسلين وعلى اله وصحبه وسلم وبعد

ماداحاديثوكتابونوكښې دحضور ﷺ بعضې نصيحتونه اولوستل كوم چه حضور ﷺ خپل بعضې صحابه كرامو رضي الله عنهم ته فرمائيلى وو.ماواغوښتل چه دې كښې بعضې نصيحتونه ذيو

وړوکی شان کتاب په شکل کښې جمع کړې شی، ماپښخه پنځوس نصیحتونه منتخب کړل، کوم چه دامام بخاری د "صحیح البخاری، دامام مسلم د "صحیح مسلم، دامام ابوداؤد د "سنن ابوداؤد، دحافظ المنذر د "الترغیب والترهیب، دامام نووی د "ریاض الصالحین. دشیخ منصورعلی ناصف د "کتاب التاج الجامع للاصول، اودابن ربیع الشیبانی د "تیسیرالوصول. نه جمع کړې شوې دی.

اګرچه حضور ﷺ دامبارک نصیحتونه خپل بعضې صحابه کرامو رضی الله عنهم ته فرمائیلي وو، خوحقیقت کښې دادټولو مسلمانانودپاره دی. دامبارک نصیحتونه عبادت کښې داخلاص اوللهیت ترغیب ورکوی اوالله تعالی سره دخوک نه شریکولوجذبه پیداکوی. دا نصیحتونه د لااله الاالله ګواهی اودالله تعالی مخکښې دسجدو کولو فضائل بیانوی. دې کښې مونځ، روژې، تهجدو اوعلم حاصلولو، او صدقې اودتسبیح فضیلتونه هم بیان کړې شوې دی، دې نه علاوه دامبارک نصیحتونه دمورپلار دفرمانبردارئ، اوړوباندې خوراک کولو، مسکینانوسره دمینې اودنورښه عملونوترغیب ورکوی.

زه الله تعالی نه سوال کوم چه هغه مونږته دنیک اومقبول عملونوتوفیق نصیب کړی، اوداکوشش دخپل ذات درضامندئ ذریعه جوړه کړی، اومونږته دې نصیحتونونه دفائدې اخستلو اودې باندې دعمل کولوتوفیق نصیب کړی. بې شکه الله تعالی نیغې لار طرف ته راهنمائی کونکې دې.

وصلی الله علی سیدنا محمد وعلی اله وصحبه وسلم.

حمزه محمدصالح عجاج

مدینه منوره

# عرض د ناشر

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم.

امابعد!

الله تعالی دانسانانودرهنمایئ اوهدایت دپاره دانبیاء کرامؑ او رسولانوسلسله شروع کړه، چه انسان دخپل خالق په حکمونو باندې عمل کولوسره خپل ژوندتیرکړی، چه دهغې په وجه باندې ئې داژوند هم صحیح شی اواخرت کښی هم کامیاب شی.

زمونږخوږنبی کریم ﷺ اخری رسول دې، اودقیامت پورې راتلونکی انسانانودپاره حضور ﷺ عظیم نصیحت کونکې دې.

الحمدالله زه دزړه نه خوشحاله یم چه:

د ۵۵ وصیة من وصایاالرسول ﷺ داردوترجمې د "رحمت دوعالم کی ۵۵ نصیحتیں، پښتوترجمه دخائسته تیاتهل، امبوزجلداودوه رنګه چاپ کښی ستاسویه لاسونوکښی دې.

محترم بردارم مفتی عبدالعظیم صاحب دډیرداد حق. داردې، چه دهغوی دمحنت په وجه باندې داترجمه اوشوه، الله تعالی دې دهغه په علم اوعمل کښی ترقی واچوی. امین.

الله تعالی دې ټولومسلمانانوسړواوښځوته دحضور ﷺ په هریوحکم، هریوسنت اوهریونصیحت باندې دعمل کولوتوفیق ورکړی اودې کتاب ته قبولیت هم ورکړی. امین.

طالب دعاممتازاحمد
مدیراعلی دارالقلم، لاهور، پاکستان

..........

# نصيحت نمبر ۱

## اسلام قبول كړئ!

حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائى چه ما حضور ﷺ ته عرض اوكړو، دقيامت په ورځ باندې به ستا سو سفارش دتېولونه زيات كوم كس ته حاصل وى؟ حضور ﷺ اوفرمائيل اې ابوهريره! د حديث علم حاصلولو دپاره ستا حرص ليدو سره زما هم داخيال وو، چه ستا نه مخكښې به ما نه دې باره كښې څوك هم تپوس نه كوى.

اسعدلنا بشفاعتى يوم القيامة من قال: لااله الاالله خالصاً من قلبه اونفسه. (بخارى)

دقيامت په ورځ باندې به زما دشفاعت سعادت هغه كس ته حاصل وى چاچه دزړه اخلاص سره لااله الاالله اووئيله.

حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلو.

چاچه ګواهى وركړه چه دالله تعالى نه علاوه بل څوك دعبادت لائق نشته، هغه يواځې دې، دهغه څوك شريك نشته، اومحمد ﷺ دالله تعالى بنده اورسول دې، اوحضرت عيسى عليه السلام دالله تعالى بنده، دهغه رسول اودالله تعالى كلمه ده، كوم چه دحضرت مريم طرف ته ليږلې شوې وه، اوهغه دالله تعالى دطرف نه ليږلې شوې روح دې اوجنت حق دې، اودوزخ حق دې، نوالله تعالى به هغه جنت ته داخلوى، چه دهغه عمل هرڅنګه وى.

(بخارى ومسلم)

دحضرت جناده رضي الله عنه نه دااضافه هم نقل ده چه الله تعالى به هغه د جنت په اتو دروازو كښې چه په كومه دروازه هغه غواړى

داخل اوفرمائی (بخاری)

اودمسلم شریف په روایت کښې دی من شهدان الااله الاالله، وان محمدرسول الله حرم الله علیه النار. (مسلم)

چاچه ګواهي ورکړه چه دالله تعالی نه علاوه څوک د عبادت لائق نشته، اومحمد ﷺ دالله تعالی رسول دې، نوالله تعالی به هغه باندې ددوزخ اورحرام کړی.

حضرت ابوعمرة سفیان بن عبدالله رضی الله عنه فرمائی: مارسول الله ﷺ ته خواست اوکړوچه ماته داسلام باره کښې داسې واضح او کافی نصیحت اوفرمایئ چه ستاسونه پس ماته دبل چانه دتپوس کولو ضرورت نه وی.

حضور ﷺ اوفرمائیل.

قل امنت بالله ثم استقم. (مسلم)

الله باندې ایمان راؤړه، اومضبوط پرې اوسه.

## نصیحت نمبر۲

## توحید اختیارکړئ!

حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه یوه ورځ زه دحضور ﷺ روستوروان ووم، حضور ﷺ اوفرمائیل، اې هلکه! زه تاته یوڅو کلمې بښایم، ته دالله تعالی دحکمونوحفاظت اوکړه، الله تعالی به ستا حفاظت اوفرمائی، ته دالله تعالی دحکمونوحفاظت اوکړه ته به هغه (الله تعالی) خپلې مخې ته اومومې. کله چه ته سوال کوې نودالله تعالی نه کوه، اوکله چه مددغواړې نودالله تعالی نه غواړه، اوپوهه شه چه ټول خلق دې خبرې باندې اتفاق اوکړی چه هغوی تاته په څه څیز کښې فائده رسول غواړی نوهغوی تاته فائده نه

شی دزکولې، دهغه خیزنه علاوه کوم چه الله تعالی ستادپاره لیکلې دې. که چرې ټول خلق دې خبرې باندې اتفاق اوکړی چه تاته څه څیز کښې نقصان درکړی نوهغوی تاته نقصان نه شی درسولې، دهغه څیزنه علاوه کوم چه الله تعالی ستادپاره لیکلې دې. هم دااخری خبره ده. ځکه چه قلم اوچت کړې شوې دې اوصفحه اوچه شوې ده. (ترمذی)

اودترمذی نه علاوه یوبل روایت کښې دی چه الله تعالی یاد ساته ته به هغه خپلې مخې ته مومې. اوته الله تعالی د خوشحالۍ وخت کښې یادساته. الله تعالی به تادتکلیف وخت کښې یادساتی. او پوهه شه چه ستانه څه پاتې شول هغه ستا نصیب کښې نه وو، اوڅه به چه تاته ملاویږی هغه سره ستانه ورکیدې نشی (هغه به درته ضرور ملاویږی) اوپوهه شه چه بې شکه دصبرسره مددوی. تنګۍ نه پس راحت اومشکلاتونه پس اسانی وی.

## نصیحت نمبر ۳

## علم حاصل کړئ!

حضرت قبیصه رضی الله عنه بن المخارق فرمائی چه زه دحضور ﷺ خدمت کښې حاضرشوم. حضور ﷺ تپوس اوفرمائیلو، اې قبیصه! ولې راغلې یې؟ ماعرض اوکړوچه زماعمرزیات شوې دې، اوزما هډوکی کمزورې شوې دی. زه تاسوته دې دپاره راغلې یم، چه تاسو ماته هغه څیزاوښایئ کوم چه دالله تعالی په دربارکښې ماته فائده راکونکې وی. حضور ﷺ اوفرمائیل اې قبیصه! کله چه ته دسحرمونځ اوکړې نودرې ځله سبحان الله العظیم وبحمده، وایه. ته

چه کوم کانړی، ونې اوخاؤرې خواکښې تيريږې هغه به ستاد پاره استغفارکوی
اواې قبيصه ته دا وايه:
اللهم انى اسئلک مماعندک وافض علی من فضلک، وانشرعلی من رحمتک، وانزل علی من برکاتک. (مسنداحمد)
اې الله زه ستانه دهغه څيزسوال کوم، کوم چه تاسره دې، اوته ماباندې خپل فضل اوفرمايه، اوماباندې خپل رحمت اوفرمايه اوماباندې خپل برکات نازل کړه.
داوصيت دطالب علم په فضيلت باندې دلالت کوی.
حضرت ابوذر رضی الله عنه فرمائی چه مادحضور ﷺ نه اوريدلی دی چه: کوم سړې دعلم په تلاش کښې يو لار باندې روان شی، نوالله تعالی هغه دپاره دجنت لاراسانوی. اوفرښتې دهغه دې عمل د خوشحاليدو په وجه باندې دهغه دپاره خپلې وزرې خوروی، (يعنی دهغه احترام کوی) اوبې شکه دعالم دپاره دزمکې اواسمان ټول څيزونه استغفارکوی، تردې چه دسمندرکبان هم دهغه دپاره دمغفرت دعاکوی. اودعالم فضيلت په عابدباندې داسې دې، څنګه چه دسپوږمۍ فضيلت په ټولو ستورو باندې دې.
اوبې شکه عالمان دانبياء کراموروارثان دی. اوانبياء کرام د درهم اودينارووارثان نه جوړوی، بلکه هغوی دعلم ميراث پريږدی.پس چاچه هغه علم حاصل کړو، هغه ته غټه حصه حاصل شوه. (ابوداؤد)
حضرت صفوان بن مسال رضی الله عنه فرمائی چه زه دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضرووم،اوحضور ﷺ جمات کښې ناست او سور څادر ئې په سر کړې وو. ماعرض اوکړو. يارسول الله ﷺ زه

تاسوته علم حاصلولودپاره راغلې يم. حضور ﷺ اوفرمائيل ,,مرحبابطالب العلم، ان طالب العلم تحفه الملائكة باجنحتها، ثم يركب بعضهم بعضا حتى، يبلغوالسماء الدنيامن محبتهم لمايطلب،،

(مسنداحمد)

طالب علم ته پخيرراغلې! ځكه چه فرښتې طالب علمان په خپلو وزروكښې اخلى، اوهغوى دهغې علم سره دمينې په وجه باندې ديوبل دپاسه اودريږى، تردې چه اسمان پورې اورسى.

جناب ابوموسى اشعرى رضي الله عنه نه روايت دى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل، الله تعالى چه كوم علم اوهدايت راكولوسره زه راليږلې يم، ددې مثال دهغې باران په شان دې كوم چه وريږى خوټولې زمكې باندې، خودزمكې هغه حصه ورسره ډيره ښه كيږى كومه چه اوبه ښه راكاږى، بيادهغې نه مختلف قسمه واښه اوګياګانې راؤځى، اودهغې زمكې څه حصه داسې وى كومې كښې چه دباران اوبه دخپل ځان دپاره د اودرولوصلاحيت وى (چه دهغې نه تالاب وغيره جوړيږى) دهغې په ذريعه باندې الله تعالى خلقوته فائده رسوى، چه هغوى ئې څكى، خپل باغونواوپټوته اوبه وركوى، اودزمكې يوه حصه داسې شنډه وى چه نه اوبه ساتلې شى اونه ئې راښكلې شى، چه واښه وغيره پيداكړى. (پس باران هغې باندې ضائع شو) چه نه هغې ته پخپله باندې فائده اورسى اونه بل چاته. داسې مثال دهغه سړى دې چاچه زما دراؤړلې شوې علم اوهدايت نه څه واخستل، ددين پوهه پكښې پيداشوه، اودزده كولواوخودنې په ذريعه باندې ئې خلقوته فائده اورسوله، اودامثال دهغه سړى هم دې، كوم چه دعلم اوهدايت طرف ته اونه كتل او نه ئې دالله تعالى هغه هدايت قبول كړو، كوم

سره چه زه ستاسو طرف ته رالیږلې یم. (مسلم)

# څلورم نصیحت

## د مظلوم مدد کوئ!

حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل

المسلم اخوالمسلم، لایظلمه ولایسلمه، من کان فی حاجة اخیه کان الله فی حاجته، ومن فرج عن مسلم کربة فرج الله عنه بها کربة من کریب یوم القیامة، من سترمسلماستره الله یوم القیامة.

مسلمان دمسلمان روردې، نه دې هغه باندې ظلم کوی اونه دې ظلم دپاره چاته حواله کوی. څوک چه دخپل رورحاجت پوره کړی، الله تعالی به دهغه حاجت پوره کړی. اوچاچه دخپل مسلمان رورمصیبت لرې کړو، الله تعالی به دقیامت په مصیبتونو کښې دهغه مصیبت لرې کړی. اوکوم مسلمان چه یومسلمان باندې پرده واچوی الله تعالی به دقیامت په ورځ په هغه باندې پرده واچوی.

اوحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.

چاچه دیومسلمان دنیاوی مصیبتونو کښې یومصیبت لرې کړو، الله تعالی به دهغه دقیامت دمصیبتونونه مصیبت لرې کړی. او چاچه مشکل کښې دګرفتارکس مدداوکړوالله تعالی به هغه دپاره دنیا اواخرت کښې اسانی پیداکړی. اوچاچه یومسلمان باندې پرده واچوله نوالله تعالی به هغه باندې اخرت کښې پرده واچوی. ترڅوپورې چه یوانسان دخپل رورمدد کوی، الله تعالی دهغه مدد کوی. اوکوم کس چه دعلم حاصلولو په لارروان شی الله تعالی هغه دپاره دجنت لار اسانه کړی. اودالله تعالی په کورونو

کښې (جمات) کښې کله چه يو کور کښې يو قوم راجمع شي اود الله تعالى د کتاب تلاوت کوی يا خپلو کښې يو بل ته د هغې تعليم ورکوی نو هغوی باندې سکون نازليږی، او هغوی باندې رحمت وريږی او فرښتې د هغوی نه ګيرچاپيره ولاړې وی، او الله تعالى د فرښتو مخکښې د هغوی ذکر کوی. څوک چه د الله تعالى مخې ته وی. او د چا عمل چه څوک سپک کړل د هغوی خاندان هغوی نه شی اوچتولې.

# نصيحت نمبر ۵

## الله تعالى ته سجدې کوئ!

حضرت معدان بن طلحه رضي الله عنه فرمائی، چه زه د حضور ﷺ غلام حضرت ثولان رضي الله عنه سره ملاؤ شوم.

ما اووئيل، چه ما ته داسې عمل اوښايه، چه زه هغې باندې عمل اوکړم نو الله تعالى ما جنت ته داخل کړی، يا ما اووئيل چه ما ته د الله تعالى د ټولو نه خوښ عمل باره کښې اووايه.

هغه چپ پاتې شو، ما بيا تپوس اوکړو، هغه بيا چپ پاتې شو، ما په دريم ځل بيا تپوس اوکړو.

نو هغه اوفرمائيل، ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ډيرې سجدې کوه، ځکه چه ستا د سجدې په بدله کښې الله تعالى ستا يو درجه اوچتوی، او ستا يو ګناه معاف کوی. (مسلم)

حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه نه روايت دی، هغه د رسول الله ﷺ نه دا اوريدلی دی.

چه بنده کومه يوه سجده کوی الله تعالى د هغه دپاره د دې سجدې

په بدله کښې يوه نيکي ليکي. اويوه ګناه ئې معاف فرمائي او يوه درجه ئې اوچتوی ، پس تاسوډېرې سجدې کوئ (ابن ماجه)
دحضرت حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل.
ومامن حالة يكون العبدعليهااحب الى الله مـن ان يـراه ساجدايعفروجهه فى الله.

دبنده يوحالت هم دالله تعالى په نزدباندې ددې نه زيات خوښ نه دې چه هغه خپل بنده دسجدې په حالت کښې اووينې، چه هغه بنده خپل مخ(ذلت سره دخشوع اوخضوع مظاهره کوی) خاؤرې سره ملاوهی. (طبراني في الاوسط)

# نصيحت نمبر۶

# صدقه ورکوئ!

دحضرت کعب بن عجره رضي الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل.
اې کعب ابن عجره! جنت ته به هغه غوښه اووينه نه داخليږی. کومه چه دحراموپه مال باندې غټه شوې وی، اودهغې دپاره بهتردې. اې کعب بن عجره! خلق دوه قسمه ددنيانه رخصتيږی.
۱ : څه تلونکی خپل نفس ازادونکی دی.
۲ : څه تلونکی داسې دی کوم چه خپل نفس قيدساتی.
اې کعب بن عجره! مونځ الله تعالى ته دنزديکت ذريعه ده. اوروژه دګناهونونه دبچ کيدودپاره ډهال ده، اوصدقه ګناهونه داسې ختموی څنګه چه اوبۀ اورمړکوی. (ابن حبان)
دحضرت معاذبن جبل رضي الله عنه نه روايت دی چه زه يوسفر کښې حضور ﷺ سره ووم،بياحضور ﷺ يوحديث بيان

اوفرمائیلو چه هغې کښې ئې داهم اوفرمائیل! ایازه تاسوته دخیر د دروازوباره کښې اونه وایم؟ مااووئیل چه ولې نه یارسول الله! حضور ﷺ اوفرمائیل روژه دګناهونودپاره ډهال دې اوصدقه ګناهونه داسې ختموي څنګه چه اوبه اورمړکوي. (ترمذی)

دحضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل.

ان الصدقة لتطفی عن اهلهاحرالقبور، وانمایستظل المـؤمن یوم القیامة فی ظل صدقته. (اخیرجه الطبرانی فی الکبیروالبیهقی)

بې شکه صدقه دصدقې ورکونکونه دقبرګرمي ختموي. اومومن به دقیامت په ورځ دخپلې صدقې په سوری کښې سورې حاصلوي.

حضرت میمونه بنت سعد رضی الله عنها عرض اوکړو، چه یارسول الله ﷺ مونږته دصدقې باره کښې اوفرمایئ.رسول الله ﷺ اوفرمائیل بې شکه دصدقې کونکی سړی دپاره داورنه پرده ده، څوک چه دثواب نیت ساتی اودهغې په ذریعه باندې دالله تعالی رضاحاصلوي. (طبرانی)

حضرت عمر رضی الله عنه فرمائی چه یوځل حضور ﷺ دصدقې کولو حکم اوفرمائیلو، اتفاقی طورباندې هغه زمانه کښې ماسره څه مال موجودوو.مااووئیل چه نن ماسره مال موجوددې، اوکه زه چرې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه مخکښې کیدې شم، نوهم نن مخکښې کیدې شم. دې سوچ کولوسره زه خوشحالئ باندې کورته لاړم اوکورکښې چه څه موجودوو، هغې کښې مې نیم مال راؤړو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه کوروالادپاره دې څه پریخودل؟ ماعرض اوکړوپریخودې مې دی. حضور ﷺ اوفرمائیل، څه دې

پریخـودې دی؟ مـاعرض اوکـړو، نـیم مـال مـې پریخـودې دې او حضرت ابـوبکر رضی الله عنه تـول هرڅـه راوړل. حـضور ﷺ ورتـه اوفرمـنیـل ابوبکرد کوروالودپاره دې څه پریخودل؟ هغوی اوفرمائیل هغوی دپاره مې الله تعـالی اودهغـه رسـول ﷺ پریخـودې دې، یعنی دالله تعـالی اودهغــه رســول پــاک ﷺ دنــوم برکــت. دهغــوی رضــاو خوشحالی مې پریخودې ده. حضرت عمر رضی الله عنه وائی. ما اووئیـل چـه زه دحضرت ابوبکر رضی الله عنه نه کله هم نه شم مخکښی کیدې.

## نصیحت نمبر۷: د څاښت دوه رکعته کوئ، اوهره میاشت کښی درې روژې نیسئ!

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمـائی چـه ماتـه زمادوست نـصیحت اوکـړو چه زه هـره میاشت کـښی دوه درې ورځـې روژې نیـسم، اودڅاښـت دوه رکعتـه کـوم، اوداودهٔ کیـدونـه مـخکښی وترکـوم. (متفق علیه)

حضرت ابن خزیمـه رضی الله عنه نـه داروایـت دې الفاظوسـره روایـت دې، ماته زمادوست ددریوخیزونونصیحت اوکړو، چـه زه داپرینږنـه دم. داچه زه دوترونه مـخکښی اودهٔ نه شـم، اوداچـه زه د څاښـت دوه رکعتــه پرینږنــه دم، بــې شــکه دادعبــادت کونکومــونځ دې اوهــره میاشت کښی درې روژې نیول پرینږنه دم.

دحضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه نه روایت دی چـه رسول الله ﷺ اوفرمائیل.

صوم ثلاثة أيام من كل شهر صوم الدهر كله. (بخاری، مسلم)

هره میاشت کښی درې روژې نیول، همیشه روژې نیول دی.

دحضرت ابوذر رضی الله عنه نه روایت دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.

تاسوکښی دې هریوکس دسحروخت کښی دخپل هریو اندام

# نصيحت نمبر ۹

## الله تعالی نه د عافیت سوال کوه!

حضرت ابو الفضل رضی الله عنه العباس بن عبد المطلب فرمائی چه ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو، اې رسول الله ﷺ ماته دځه داسې څيز تعليم راکړئ چه زه هغه دالله تعالی نه غواړم. رسول الله ﷺ اوفرمائيل، الله تعالی نه دعافيت سوال کوه.

زه يو څو ورځې پس بيا د حضور ﷺ خدمت کښې حاضر شوم اوعرض مې اوکړو. اې دالله تعالی رسوله ﷺ ماته څه داسې څيز اوښايئ چه زه هغه دالله تعالی نه غواړم. حضور ﷺ اوفرمائيل.

ياعباس ياعم رسول الله، سلوالله العافية فى الدنياوالاخرة.

اې عباس، اې دالله تعالی درسول ترۀ، الله تعالی نه د دنيا او د آخرت دعافيت سوال کوه. (ترمذی)

مونږ دلته يو څو مسنون دعاګانې ذکر کوؤ، کومې چه د حضور ﷺ نه نقل شوې دی او حضور ﷺ خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته خودلې دی.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روايت دی چه ډير کم داسې شوې دی چه حضور ﷺ دمحفل نه پاسيدلې وی او خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم د پاره ئې دا دعانه وی غوښتلې.

**دعا**: اللهم اقسم لنامن خشيتک مايحول بينناوبين معاصيک ومن طاعتک ماتبلغنابه جنتک ومن اليقين ماتهون به علينامصائب الدنيا، اللهم متعنا باسماعنا وابصارنا وقوتنا مااحييتنا واجعله الوارث منا، واجعل ثارنا على من ظلمنا،وانصرناعلى من عادانا ولاتجعل

مصيبتنافی ديننا،ولاتجعل الدنيا اكبر همنا ولامبلغ علمنا،ولاتسلط علينامن لا يرحمنا.(اخرجه الترمذی)

اې الله مونږته خپله دومره ويره راکړې چه هغه زمونږاوستا نافرمانۍ مينځ کښې بند يزجوړشی، اومونږته خپل دومره اطاعت راکړه، چه هغه مونږستاجنت ته اورسوی، اوداسې يقين راکړه، چه دهغې په ذريعه باندې مونږته دپاره ددنيامصيبتونه اسان شی، اې الله! ته مونږته زمونږداوريدو، ليدو، اوزمونږدطاقت نه مونږته فائده راکړه. ترڅوپورې چه ته مونږژوندی ساتې، اواې الله ته هغه زمونږ وارث جوړکړه، اوڅوک چه مونږباندې ظلم کوی ته زمونږدوينې بدله هغوی باندې لازم کړې، اودهغه کس په مقابله کښې زمونږمدد اوفرمايه څوک چه مونږسره دښمنی ساتی، او دنيا زمونږاصل مقصد مه جوړوه اونه دعلم مقصد، اومونږباندې ظالم مه مسلط کوه.

دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو.

من سره ان يستجيب الله له عندالشدائدوالكرب فليكثرالدعاء فى الرجاء. (ترمذی)

کوم کس چه داغواړی چه الله تعالی دسختۍ اوتکليف په وخت کښې دهغه دعاقبول اوفرمائی، هغه ته پکاردی چه دخوشحالۍ په وخت کښې ډيرې دعاګانې کوی.

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه حضور ﷺ به دادعافرمائيله.

اللهم انى اسئلک الهدى والتقى والعفاف والغنى.

اې الله، زه ستانه دهدايت، تقوی، پاک دامنۍ اوغنی کيدوسوال کوم. (مسلم)

حضرت طارق بن اشیم الاشجعی صحابی رضی الله عنه فرمائی.
کله به چه یوسړې مسلمان شو، نوحضور ﷺ به هغه ته مونځ خودلو، بیابه ئې ورته حکم فرمائیلوچه دادعاکوه.
اللهم اغفرلی وارحمنی واهدنی وعافنی، وارزقنی. (مسلم)
اې الله زمامغفرت اوفرمایه، ماباندې رحم اوفرمایه. ماته هدایت اوفرمایه، ماته پاکدامنی راکړه، اوماته رزق راکړه.
یوبل روایت کښی دحضرت طارق بن اشیم الاشجعی رضی الله عنه فرمائی چه حضور ﷺ ته یوسړې راغې اووې وئیل.
یارسول الله ﷺ کله چه زه دعاغواړم نوزه څه وایم؟
ماواؤریدل چه حضور ﷺ اوفرمائیل چه دادعاکوه.
اللهم اغفرلی وارحمنی وعافنی وارزقنی. (مسلم)
اې الله زمامغفرت اوفرمایه، ماباندې رحم اوفرمایه، ماته پاکدامنی راکړه اوماته رزق راکړه.
بیائې اوفرمائیل، چه دې دعاکښی به ستادپاره دنیا او اخرت دواړه جمع شی.
دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ به دادعا فرمائیله، اې الله زمادین اصلاح اوفرمایه، په کومه معامله کښی چه زماعزت دې اوزماددنیااصلاح اوفرمایه، په څه چه زما رزق دې، اوزمااخرت اصلاح اوفرمایه، چه هغې ته به زه واپس ورځم ، اوزما دخیردپاره زماعمرزیات کړه، اومرګ دهریوشرنه زمادپاره اسان جوړکړه. (مسلم)
حضرت ابوامامه رضی الله عنه فرمائی چه حضور ﷺ ډیرې دعاګانې فرمائیلی دی، مونږ ته هغې کښی څه هم یادنه دی. مونږعرض اوکړو یارسول الله ﷺ تاسو ډیرودعاګانوتعلیم

فرمائیلې دي، مونږ ته هغې کښې هيڅ هم یادنه دی. حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو، ایازه تاته داسې دعااونه ښایم چه هغې کښې هغې ټولې جمع شوې وی؟
اوحضورارشاداوفرمائیلو، چه داد عاکوه.

اللهم اسئلک من خیرماسالک منه نبیک محمدصلی الله علیه وسلم. اعوذبک من شرمااستعاذمنه نبیک محمدصلی الله علیه وسلم وانتَ المستعان وعلیک البلاغ ولاحول ولاقوة الابالله. (ترمذی)

اې الله! زه تانه دهغې خیرسوال کوم، کوم چه ستانبی کریم ﷺ تانه غوښتلې دې، اوزه ستانه دهرهغه څیزدشرنه پناه غواړم دکوم نه چه ستانبی ﷺ پناه غوښتلې ده. هم ستانه مې مدد غوښتلې شی، هم ستاطرف ته به واپس کیږم، اودپناه بل ځائې نشته، اونه طاقت سوا دالله تعالی نه.

انس بن مالک رضی الله عنه بیان فرمائی چه رسول الله ﷺ به داسې دعافرمائیله.

اللهم انی اعوذبک من العجزوالکسل والجبن والهرم والبخل. واعوذبک من عذاب القبرواعوذبک من فتنة المحیاوالممات وفی روایة وضلع الدین وغلبة الرجال.

اې الله! زه ستانه دعاجزکیدو اوسستئ اوبزدلئ، او بوډاوالی اوبخل نه پناه غواړم. اودقبردعذاب نه، اودژوند اودمرګ دفتنونه هم ستاپناه غواړم، اویوروایت کښې دقرض دزیاتوالی اودخلقوددزړه ورکیدونه هم پناه غوښتل ذکرشوې دی. (مسلم)

......

# نصیحت نمبر ۱۰

## روژې نیسئ!

حضرت ابوامامه رضی الله عنه فرمائی چه ماعرض اوکړو، یارسول الله ﷺ! ماته دڅه عمل حکم اوکړئ، حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو.

علیک بالصوم، فانه لابدله.

تادپاره ضروری دی چه روژې نیسې، ځکه چه ددې هیڅ بدل نشته.

ماعرض اوکړو.

ماعرض اوکړویارسول الله ﷺ ماته دڅه عمل حکم اوفرمایئ. حضور ﷺ اوفرمائیل. چه تادپاره ضروری چه روژې نیسې، بې شکه ددې هیڅ بدل نشته.

ماعرض اوکړویارسول الله ﷺ ماته دڅه عمل حکم اوفرمایئ. حضور ﷺ اوفرمائیل. چه تادپاره ضروری چه روژې نیسې، بې شکه ددې هیڅ بدل نشته. (نسائی)

یوروایت کښې حضرت ابوامامه رضی الله عنه فرمائی چه زه د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم، اوماعرض اوکړو، ماته دڅه فُائده ورکونکی عمل حکم اوکړئ، حضور ﷺ اوفرمائیل، روژې نیسه ځکه چه ددې هیڅ مثال نشته. (نسائی)

اویوبل روایت کښې دحضرت ابوامامه رضی الله عنه فرمائی چه ما عرض اوکړو، یارسول الله ﷺ ماته دڅه داسې عمل حکم اوفرمایئ چه دهغې په ذریعه باندې زه جنت ته داخل شم. حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو.تادپاره ضروری چه روژې اونیسې، ځکه چه ددې هیڅ مثال نشته. (ابن حبان)

پس د حضرت ابوامامه رضي الله عنه په كور كښې دورځې وخت كښې كله هم لوګې نه دې ليدلې شوې، خوكله به چرته ميلمه راغې. مونږ ته هم ذكرشوى حديث باندې غوركول پكاردى.

حضرت ابوسعيد رضي الله عنه فرمائى چه حضور ﷺ ارشاداوفرمائيلو.

مامن عبديصوم يوما في سبيل الله تعالى الاباعدالله بذلك اليوم وجهه عن النارسبعين خريفا. (بخارى)

كوم كس چه يوه ورځ روژه اونيسى، يايوه ورځ دالله تعالى په لاركښې جهاداوكړى الله تعالى هغه ددوزخ نه داوياكالودمزل مطابق لرې كوى.

حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: الله تعالى فرمائى، چه دانسان هريوعمل دروژې نه علاوه دهغه دپاره دې، ځكه چه روژه زمادپاره ده، پس زه به ددې خاص بدل وركوم. اوروژه دډهال په شان ده. پس تاسوكښې چه كومه ورځ باندې دچاروژه وى نوهغه ته پكاردى دفحش اوګنده خبرونه ځان اوساتى، جهګړې نه كوى، كه بل څوك ورته كنزل اوكړى يافسادكول غواړى نوهغه ته دې اووائى چه زماروژه ده.

په هغه ذات مې دې قسم وى دچاپه قبضه كښې چه دمحمد ﷺ ساه ده، دروژه داردخولې بدبوئى دالله تعالى په نزدباندې دمشك دخوشبويئ نه ښه ده. روژه دارته دوه قسمه خوشحالئ ملاويږى. يوه خوشحالى دروژه ماتى په وخت كښې، اوكله به چه دقيامت په ورځ باندې خپل رب سره ملاويږى نودروژې په وجه باندې به ورته هلته هم خوشحالى حاصل شى. (بخارى ومسلم)

دبخارى په يوروايت كښې داهم دى چه الله تعالى فرمائى هغه خپله لوږه تنده اونفسانى خواهشات زمادپاره پريخودل، اوما

دپاره ئې روژه اونیوله. هم زه به ددې خاص بدله ورکوم، دعام نیکئ بدله لس چنده وی.

دمسلم روایت داسې دې چه دانسان دهرعمل بدله زیاتولو سره ورکولې شی، دنیکئ بدله دلس چندونه اوؤسوؤپورې ده(خوروژه داسې نیکی ده چه ددې باره کښې) الله تعالی فرمائی چه روژه خوزما دپاره خاص ده، اوهم زه به ددې خاص بدله ورکوم. ځکه چه هغه خپل خواهشات اوخوراک څکاک زمادپاره پریخودل. روژه دارته دوه وخته خوشحالیږی ملاویږی، یودروژه ماتی وخت کښې، اودویمه خوشحالی خپل رب سره دملاقات وخت کښې.

دروژې په وجه باندې خوله کښې پیداشوې بدبوئی دالله تعالی په نزدباندې دمشک دخوشبوئۍ نه هم بهترده.

# نصیحت نمبر ۱۱

## توبه کوئ

حضرت اغربن یسارالمزنی رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو.یاایهاالناس توبوالی الله واستغفروه، فانی اتوب فی الیوم مائة مرة. (مسلم)

اې خلقوتوبه اواستغفارکوئ، بې شکه زه په ورځ کښې سل ځله توبه کوم.

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه مادحضور ﷺ نه دااوریدلی دی.والله انی لاستغفرالله واتوب الیه فی الیوم اکثرمن سبعین مرة. (بخاری)

په الله مې دې قسم وی! بې شکه زه یوورځ کښې داویاځله نه زیات الله تعالی ته توبه اواستغفارکوم.

حضرت ابو حمزه انس بن مالک الانصاري رضی الله عنه کوم چه دحضور ﷺ خادم وو، دهغه نه روايت دی چه حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلو. الله تعالی دتوبې په وجه باندې دهغه سړی نه زيات خوشحاليږی دکوم نه چه اوښ ورک شوې وی اوبياورته يوميدان کښې ملاؤشی. (بخاری و مسلم)

دمسلم شريف په روايت کښې دی چه الله تعالی دخپل بنده په توبه باندې دهغه سړی نه زيات خوشحاليږی، کوم چه يوخشک ميدان کښې په سورلۍ باندې وی، اودهغه نه سورلۍ ورکه شوې وی اوهغې باندې دخوراک څکاک سامان هم موجودوی. پس هغه دخپلې سورلۍ د نه مايوسه کيدوسره ديوې ونې لاندې کينی، اويوناساپه اووينی چه دهغه سورلی هغه سره خواکښې ولاړه ده، هغه دهغې پړې اونيسی اوډيرې خوشحالۍ په وجه باندې اووائی، الله ته زمابنده ئې اوزه ستاخداې يم. بې شکه هغه دډيرې خوشحالۍ په وجه باندې غلطی اوکړه. (مسلم)

دحضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه روايت دی چه حضور ﷺ ارشاداوفرمائيلو.

ان الله تعالی يبسط يده بالليل يتوب مسی النهار، ويبسط يده بالنهارليتوب مسئ الليل، حتی تطلع الشمس من مغربه. (مسلم)

بې شکه الله تعالی دشپې خپل لاس خوروی، چه په ورځ کښې ګناه کونکې سړې توبه اوکړی. اوپه ورځ کښې خپل لاس خوروی چه دشپې ګناه کونکې سړې توبه اوکړی. تردې چه نمر دمغرب دطرف نه راؤخی (اوالله تعالی به هم داسې کوی)

دحضرت ابوسعيدبن مالک بن سنان خدری رضی الله عنه نه روايت دی چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه ستاسونه مخکښې تيرشوې

قومونو کښې یوسړی یوکم سل قتلونه کړي وو. او د خلقونه ئې تپوس اوکړوچه دې زمانه کښې د دنیاکښې د ټولونه غټ عالم اوفاضل څوک دې؟ خلقوورته د یوراهب باره کښې اوؤئیل، هغه سړې راهب ته لاړواوورته ئې اوؤئیل چه یوکم سل قتلونه مې کړی دی، ایازمادپاره د توبې څه ګنجائش شته؟ راهب اوؤئیل چه نا. هغه راهب هم قتل کړو، او د مقتولینو تعداد پوره سل شو. بیائې تپوس اوکړوچه دنیاکښې اوس څوک د ټولونه غټ عالم دې؟ نوهغه ته د یوعالم پته ورکړې شوه، هغه، هغه ته لاړواوورته ئې اوؤئیل چه ماسل قتلونه کړی دی، ایازمادتوبې څه صورت شته؟ عالم ورته اوؤئیل چه ولې نه. ستااوستادتوبې مینځ کښې هیڅ بندیز نشته. ته فلانکی ځائې ته لاړشه، هلته دالله تعالی څه بندګان دی، هغوی دالله تعالی په عبادت کښې مصروف وی، ته هم هغوی سره دالله تعالی عبادت کښې مصروف شه، اوخپل وطن ته د واپس تلوخیال دزړه نه اوباسه، چه هغه دبدۍ زمکه ده. هغه کس خودلې شوې پته باندې روان شو. هغه په لارکښې ووچه مرګ ورته راغې. اودالله تعالی درحمت اودعذاب فرښتوپه خپلوکښې جھګړه شوه چه دده روح به څوک قبض کوی. درحمت ملائکووئیل چه ده دزړه نه توبه کړې وه اودالله تعالی عبادت دپاره راروان وو. خودعذاب فرښتو وئیل چه ده خوټول عمرکښې یوه نیکی هم نه وه کړې. ددې جھګړې فیصلې کولودپاره یوه فرښته د یوخائسته سړی په شکل کښې هغوی ته راغله، هغه فرښته هغوی ثالث اومنلو. هغې اوؤئیل چه زمکه ناپ کړئ، دې چه کومې زمکې ته نزدې وی هم هغې کښې شمیر کړئ.

زمکه چه ناپ کړې شوه نونیک خلقوسره د ملاویدو فاصله نزدې وه، پس درحمت فرښتود هغه روح واخستلو.

دصحیح یوروایت کښې دي چه دنیک خلقوطرف ته دهغه فاصله یولیشت نزدې وه. په دې وجه باندې هغه هم هغوی کښې شمیرشو. هم دصحیح په یوروایت کښې دااضافه هم ده چه اول الله تعالی دبدخلقوزمکې ته اووئیل چه ته خپله فاصله ډیره کړه، اودښه خلقوزمکې ته حکم اوشوچه ته خپله فاصله کمه کړه. ددې نه پس زمکه ناپ کړې شوه، نوهغه دنیک خلقوزمکې ته یولیشت نزدې وو. اودغه شان الله تعالی دهغه مغفرت اوفرمائیلو. یوبل روایت کښې دي چه هغه سړی دمرګ وخت کښې په سینه باندې تلوسره دبدخلقو دزمکې نه لرې شوې وو.

# نصیحت نمبر۱۲

# د اسلام په ارکانو باندې عمل کوئ

حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه فرمائی چه زه یوسفرکښې حضور ﷺ سره ووم. یوه ورځ زه حضور ﷺ سره دسحروخت کښې روان ووم. ماعرض اوکړو.

یارسول الله ﷺ ماته څه داسې عمل اوښایئ چه دهغې په ذریعه باندې زه جنت ته داخل شم، اودوزخ نه لرې شم. حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو. بې شکه تاډیرغټ سوال کړې دې. داهم هغه دپاره اسان دې، چادپاره ئې چه الله تعالی اسان کړی. ته دالله تعالی عبادت کوه. اوپه څه څیزکښې هغه سره څوک شریک مه جوړوه، اومونځ قائم کړه، اوزکوة اداکوه، اودرمضان روژې نیسه، اودبیت الله حج اوکړه، بیائې اوفرمائیل، چه ایازه تاته دخیر دروازې اونه ښایم؟

ماعرض اوکړو. یارسول الله ﷺ ولې نه؟ حضور ﷺ ارشاد

اوفرمائیلو. روژه ډهال دې، اوصدقه اودشپې مونځ ستاخطاګانې داسې ختموی، څنګه چه اوبه اورختموی. بیاحضور ﷺ دالله تعالی ددې ارشادتلاوت اوفرمائیلو:

,,تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ ٱلْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَـٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿١٦﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِىَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾ ،،(سورۀ السجده ۱٦، ۱۷)

بیاحضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو. ایازه تاته داسلام بنیاد، ددې ستنې، اوددې اوچتوالې اونه ښایم؟ ماعرض اوکړو، یارسول الله ﷺ ولې نه.

حضور ﷺ خپلې ژبې طرف ته اشاره کولوسره اوفرمائیل.

خپل ځان ددې نه اوساته، ماعرض اوکړو، اې رسول الله ﷺ کومې خبرې چه مونږخپلوکښې کوؤ، ددې باره کښې به هم تپوس کولې شی؟ حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو.

ثکلتم امک. ستامورددې تابوجهـ اوکنړی. (ترمذی)

خلق په خوله باندې دنوروخلقوباره کښې خبرو کولوپه وجه باندې، دوزخ ته الټه غورزولې شی.

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت کوی چه حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو.

ان الصدق یهدی الی البروان البریهدی الی الجنة وان الرجل یصدق حتی یکتب عندالله صدیقاوان لکذب یهدی الی الفجوروان الفجور یهدی الی الناروان الرجل لیکذب حتی یکتب عندالله کذابا.

(بخاری، مسلم)

بې شکه رښتیادخیرلارده. اودخیرلارجنت طرف بوتلل کوی

اوکوم کس چه همیشه ریښتیاوائی. دالله تعالی په دربار کښې دهغه نوم صدیق لیکلې شی.

اوبې شکه دروغ دګناه په لاربانديې روانول کوی، اوګناه دوزخ ته رسول کوی. اوکله چه انسان دروغ وائی نودالله تعالی په نزدبانديې هغه دټولونه غټ دروغژن شمیرلې شی.

# نصیحت نمبر۱۳

## مور پلارسره ښه سلوک کوئ!

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه یوسړې حضور ﷺ ته راغې اوعرض ئې اوکړو، یارسول الله ﷺ خلقوکښې دټولونه زیات زمادښه سلوک څوک حق داردی، حضور ﷺ اوفرمائیل، ستامور. هغه تپوس اوکړو، بیاڅوک؟ حضور ﷺ اوفرمائیل ستامور.هغه بیاعرض اوکړو، بیاڅوک؟ حضور ﷺ اوفرمائیل ستامور، هغه بیاعرض اوکړو بیاڅوک؟ حضور ﷺ اوفرمائیل ستاپلار. (بخاری و مسلم)

یوبل روایت کښې دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه د حضور ﷺ نه تپوس اوشو، یارسول الله ﷺ زمادښه سلوک د ټولونه زیات حق دارڅوک دی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل ستامور، بیاستامور، بیاستاپلار، بیاستا نزدې خپلوان،او څوک چه څومره نزدې وی هم هغه هومره هغه حق داردی. (مسلم)

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل چه هغه سړې دې اوشرمیږی، هغه سړې دې اوشرمیږی هغه سړې دې اوشرمیږی، چه هغه خپل مورپلار، یادواړوکښې یود بوډاوالی حالت کښې اوموندل او د هغوی خدمت کولوسره

جنت ته داخل نه شو. (مسلم)
حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت کوی.
سالت نبی صلی الله علیه وسلم اي العمل احب الی الله تعالی قال: الصلوة علی وقتهاقلت: ثم ای؟ قال: بر الوالدین قلت ثم ای؟ قال: الجهادفی سبیل الله. (متفق علیه)
ما دحضور ﷺ نه تپوس اوکړوچه دالله تعالی کوم عمل ډیر خوښ دي؟ حضور ﷺ اوفرمائیل، په خپل وخت باندې مونځ کول، ما عرض اوکړو، ددې نه پس کوم یو؟ وې فرمائیل مورپلار سره ښه سلوک، ماعرض اوکړو، ددې نه پس، حضور ﷺ اوفرمائیل، دالله تعالی لارکښی جهاد کول. (بخاری، مسلم)
حضرت ابوهریره رضی الله عنه بیانوی چه حضور ﷺ اوفرمائیل.
لایجزی ولدوالداالاان یجده مملوکافیشتریه فیعتقه. (مسلم)
یوهلک هم دخپل مورپلارد (احساناتو) بدله نه شی ورکولې. خوهغه کوم چه خپل مورپلاردغلامئ دحالت نه ازاد کړي.
دحضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه نه روایت دی چه یوسړې دنبی کریم ﷺ خدمت کښی حاضرشواووې وئیل زه ستاسونه دهجرت اوجهاددپاره بیعت کول غواړم. اودهغې داجر امید دالله تعالی نه ساتم.
حضور ﷺ اوفرمائیل، چه ستامورپلارکښی څوک ژوندی شته؟ هغه اووئیل چه اودواړه ژوندی دی. حضور ﷺ اوفرمائیل، ته الله تعالی نه اجراوثواب هم غواړې؟ وې وئیل اوجی، حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه مورپلارته واپس لاړشه اودهغوی ښه طریقې سره خدمت اوکړه. (بخاری، مسلم)

# نصیحت نمبر ۱۴

## د مونځ حفاظت کوه

دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چه نبی کریم ﷺ یوه ورځ دمونځ ذکراوفرمائیلواووې فرمائیل چه څوک دمونځ حفاظت کوی مونځ به دقیامت په ورځ دهغه دخلاصی ذریعه جوړه شی. اوڅوک چه ددې حفاظت نه کوی، دهغه دپاره به نه څه نوروی اونه څه حجت اونه دخلاصی ذریعه اودهغه حشربه دقیامت په ورځ دقارون، فرعون، هامان اوابی بن خلف سره وی. (مسنداحمد)

دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چه نبی کریم ﷺ باندې دمعراج په شپه باندې پنځوس مونځونه فرض شوې وو، بیاپنځه کړې شول، بیادالله تعالی دطرف نه اوازراغې، اې محمد ﷺ زه خبره نه بدلوم. بې شکه تاسودپاره دې پنځومونځونوکښې د پنځوس مونځونو اجردې. (بخاری، مسلم)

دحضرت ابوقتاده رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی فرمائی، ماستاامت باندې پنځه مونځونه فرض کړې دی، اوماپخپله باندې وعده فرمائیلې ده چه څوک داپه خپل وخت باندې اداکړی زه به هغه جنت ته داخل کړم اوڅوک چه دانه اداکوی، زماهغه سره هیڅ وعده نشته. (ابوداؤد)

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل، چه ماته اووایئ که چرې تاسوکښې دچاد کورپه دروازه کښې نهروی اوهغه په هغې کښې روزانه پنځه ځله غسل کوی، نوایادهغه په بدن باندې به څه خیرې پاتې شی؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو، چه بالکل به پرې پاتې نه شی، حضور ﷺ اوفرمائیل

هـم دامثـال د پنځوواړو مونځونـو هم دي، الله تعـالی د دې پـه وجـه باندې خطاګانې معاف کوی. (بخاری مسلم)

حـضرت عمـر بن سـعید رضی الله عنه فرمـائی چـه زه حـضرت عثمان رضی الله عنه سره ووم، هغوی لوټه راؤغوښتله، بیائې اوفرمائیل چه ما رسول الله ﷺ نه دااوریدلې دی چه کوم مسلمان باندې د فرض مونځ وخت راشی او هغه ښه طریقې سره اودس اوکړی او خشوع او خضوع سره مونځ اداکړی نو هغه مونځ د هغه د پاره د تیرشوی ټولو ګناهونو کفاره شی، خو دا چه ګناه کبیره نه وی. (ځکه چه هغه صرف توبې سره معاف کیږی) (مسلم)

حضرت ابوهریره رضی الله عنه بیان فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل:

الصلوت الخمس والجمعة الى الجمعة كفارة لما بينهن مالم تغش الكبائر. (مسلم)

پنځه وخته مونځونه او دیوې جمعې نه بلې جمعې پورې مونځونه اداکول، د دې وخت کفاره ده، ترڅو پورې چه کبیره ګناه اونه کړې شی.

حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه فرمائی چه ما د حضور ﷺ نه اوریدلې دی، چاچه د ماسخوتن مونځ جماعت سره اداکړو، لکه هغه چه نیمې شپې پورې عبادت اوکړو، اوچاچه د سحر مونځ هم جماعت اداکړو، پس لکه هغه چه ټوله شپه عبادت اوکړو. (مسلم)

او حضرت ابوموسی اشعر رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چاچه د سحر او مازیګر مونځ اداکړو، هغه جنت ته داخل شو. (بخاری مسلم)

حضرت جندب بن سفیان رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو.

من صلی الصبح فهو فی ذمة الله فانظر یاابن ادم لایطلبنک الله من ذمته بیشئ. (مسلم)

کوم کس چه دسحر مونځ اوکړی هغه دالله تعالی په حفاظت کښی داخل شی. پس ای دادم اولاده! خیال کوه چرته الله تعالی تا نه خپل حفظ اوامان کښی راتلوباره کښی تپوس اونه کړی.

حضرت ابوهریره رضی الله عنه بیانوی چه رسول الله ﷺ ارشاداوفرمائیلو.

یتعاقب فیکم ملائکة بالیل وملائکة بالنهار ویجتعون فی صلوة الصبح وصلوة العصر ثم یعرج الذین باتوافیکم فیسالهم الله. واعلم بهم کیف ترکته بعبادی؟ فیقولون ترکناهووهم یصلون، واتیناهم وهم یصلون. (بخاری، مسلم)

دشپې اوورځې فرښتې وخت په وخت تاسوته راځی، دهغوی یوځائې کیدل دسحراومازیګردمونځ په وخت کښی وی، کله چه د شپې والا فرښتې واپس ځی نوالله تعالی دعلم لرلو باوجود هغوی نه تپوس کوی چه زمابندګان موکومې مشغلې کښی مصروف پریخودل؟ هغوی جواب ورکوی چه کله مونږ راتلو نوهغوی مونځ کښی مصروف وو، اوکله چه مونږ ورغلې وو، نو هغه وخت کښی هم هغوی مونځ کولو.

## نصیحت نمبر ۱۵

## ښه اخلاقو سره ملاویږئ

دحضرت ابودرداء رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دمومن په تله کښی به دقیامت په ورځ دښه اخلاقو نه زیات وزنی څیزبل څه نه وی. اوالله تعالی فحش اوفضول خبرې کونکونه خفه وی. (ابوداؤد)

دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دټولونه مکمل ايمان والاهغه دې دچا اخلاق چه دټولونه ښه وی اوتاسوکښې دټولونه ښه هغه دې کوم چه خپل کورو الوسره ښه سلوک کوی. (ابوداؤد)

دحضرت جابر رضی الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه بې شکه تاسوکښې دټولونه زيات خوښ اودقيامت په ورځ باندې ماته دټولوزيات نزدې هغه کس وی دچا اخلاق چه دټولونه ښه وی. اوزه به دقيامت په ورځ دټولونه زيات خفه دهغه کس نه يم، اومانه به دټولونه لرې هغه کس وی، کوم چه تکلف اوقينچ سره خبرې او کبرکوی. (ترمذی)

حضرت انس بن مالک رضی الله عنه وائی چه:

مامست ديباجاً ولاحريرا الين من کف رسول الله صلى الله عليه وسلم ولاشممت رائحة قط اطيب من رائحة رسول الله صلى الله عليه وسلم ولقدخدمت رسول الله صلى الله عليه وسلم عشرسنين فماقال لى قط اف ولاقال لشئ فعلته لم فعلته؟ ولالشئ لم افعله الافعلت كذا. (بخاری، مسلم)

مادحضور ﷺ دلاس دتلی نه زيات نرم ريښم اوحريرهم نه دی محسوس کړې.اونه دحضور ﷺ دخوشبوئ نه بله څه خوشبوئی ماباندې ښه لرېدلې ده. اومالس کاله متواتر د حضور ﷺ خدمت اوکړو اودې دوران کښې حضور ﷺ ماته اف قدرې هم نه دی کړې، کوم کاربه چه مااوکړودهغې باره کښې ئې کله هم داسې نه دی وئيلې چه دادې ولې اوکړو؟ اوکوم کاربه مې چه نه ووکړې دهغې باره کښې ئې کله هم نه دی فرمائيلې چه تاداکارولې اونه کړو.

حضرت عبدالله بن عمروبن عاص رضی الله عنه بیان فرمائی

لم یکن رسول الله صلی الله علیه وسلم فاحشاولا متفحشا: وکان یقول: ان من خیارکم احسنکم اخلاقا. (بخاری، مسلم)

چه حضور ﷺ به قصداً یاغلطئ کښې څه بده خبره دخولې نه ویستله اونه به ئې خوښوله اوفرمائیل به ئې چه بې شکه تاسو کښې بهترهغه دې، دچاچه اخلاق ښه وی.

# نصیحت نمبر١٦

## د مونځ نه پس دا دعا کوئ!

دحضرت معاذبن جبل رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ زمالاس اونیولواووې فرمائیل اې معاذ! په الله مې دې قسم وی زه تاسره مینه کوم.

حضرت معاذ رضی الله عنه عرض اوکړو، یارسول الله ﷺ زما مور پلار دې تاباندې قربان وی، په الله مې دې قسم وی زه هم تاسوسره مینه کوم.

حضور ﷺ اوفرمائیل اې معاذ! زه تاته نصیحت کوم چه دهرمونځ نه پس دا کلمې ضروروایه.

اللهم اعنی علی ذکرک وشکرک وحسن عبادتک.

اې الله ذکر، شکراوښه عبادت کښې زمامدداوفرمایه. (ابوداؤد)

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل کوم کس چه دهرمونځ نه پس دری دیرش ځکه سبحان الله دری دیرش ځله الحمدلله اودری دیرش ځله الله اکبروائی، دایوکم سل شول، اوبیادسلوپوره کولودپاره داالفاظ اووائی.

الااله الاالله وحده لاشریک له. له الملک واله الحمد وهوعلی کل شئ قدیر. (مسلم)

نو دهغه ټول ګناهونه به معاف کړې شی، اګرچه هغه دسمندر دزګ برابرهم وی.

دحضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ به دمونځ نه پس دې الفاظوسره پناه غوښتله.

اللهم انی اعوذبک من الجبن واعوذبک من البخل واعوذبک من ارذل العمرواعوذبک من فتنة الدنیاوعذاب القبر.

اې الله زه دبزدلۍ اوبخل نه ستاپناه غوارم، اوزه دډیر بوډاوالی نه ستاپناه غوارم، اوددنیادفتنې نه پناه غوارم اوزه دقبر دفتنې نه ستاپناه غوارم. (بخاری)

ام المؤمنین حضرت جویریه بنت الحارث رضی الله عنها فرمائی چه حضور ﷺ زمانه دسحردمونځ وخت کښی لاړو، اوزه خپل جانماز باندې ناسته ووم، بیاحضور ﷺ د ځاښت وخت کښی تشریف راوړو،اوزه هم هغه ځائې کښی ناسته ووم. حضور ﷺ اوفرمائیل چه کله زه ستانه تلم نوهغه وخت کښی هم ته دلته ناسته وې، ماعرض اوکړواوجی.

حضور ﷺ اوفرمائیل.

قدقلت بعدک اربع کلمات ثلاث مرات لووزنت بماقلت منذالیوم زنتهن سبحان الله وبحمده عدد خلقه ورضاء نفسه وزنة عرشه ومداد کلماته.

تحقیق ماچه ستانه روستوکومې ځلورکلمې وئیلی دی، که چرې دهغې وزن دې ټولوسره اوکړې شی کوم چه تانن وئیلی دی نودهغې کلماتووزن به ترې نه زیات شی.

هغه كلمات دادي.

سبحان الله وبحمده عددخلقه ورضاء نفسه وزنة عرشه ومداد كلماته.

حضرت ثوبان رضي الله عنه فرمائي چه:

كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذافرغ من صلوته استغفر ثلاثا، وقال: اللهم انت السلام، ومنک السلام تبارکت ياذوالجلال والاكرام قيل للاوزاعي وهواحدرواة الحديث، كيف الاستغفار......

مونځ نه فارغ كيدوسره به حضور ﷺ درې ځله استغفار فرمائيلو، اوداكلمات به ئې لوستل.

اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت ياذاالجلال والاكرام.

اې الله! ته سلامتي يئ، سلامتي هم ستانه ملاويدې شي، اې دجلال اوعزت مستحقه هم ستاذات دبركت ذريعه ده.

امام اوزاعي رحمة الله عليه كوم چه ددې حديث روايت كونكې دې، نه تپوس اوكړې شو، چه حضور ﷺ به استغفارڅنګه فرمائيلو؟ هغوى اووئيل دې كلماتوسره. استغفرالله، استغفرالله.

مغيره بن شعبه رضي الله عنه فرمائي چه:

ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان اذافرغ من الصلوة وسلم قال: لااله الاالله وحده لاشريک لـه، لـه الملک ولـه الحمدوهوعلى كل شئ قدير، اللهم لامانع لمااعطيت ولامعطى لمامنعت ولاينفع ذاالجدمنک الجد. (بخاري، مسلم)

رسول الله ﷺ به چه كله دمونځ سلام اړولو، نوداد عابه ئې لوستله.

لااله الاالله وحده لاشريک له، له الملک وله الحمدوهوعلى

کل شئ قدير، اللهم لامانع لمااعطيت ولامعطى لمامنعـت ولاينفـع ذالجدمنک الجد.

الله تعالی نه علاوه څوک دعبادت لائق نشته هغه يواځې دې دهغه څوک شريک نشته هرڅيزدهغه ملکيت دې اود هر قسمه حمد او ثناء مستحق هم هغه دې. اوهم هغه په هريو څيز باندې قدرت لرونکې دې.

## نصيحت نمبر ۱۷

## د الله تعالی ذکرکوئ!

دحضرت عبدالله بن بسر رضي الله عنه نه روايت دی چه يوکس عرض اوکړو، يارسول الله ﷺ مادپاره داسلام حکمونه ډيرزيات شول، ماته تاسودځه داسې څيزحکم اوکړئ، چه هغه زه مضبوطئ سره اونيسم.

حضور ﷺ اوفرمائيل.

لايزال لسانک رطبامن ذکرالله.

ستاژبه هميشه دالله تعالی ذکرسره لونده پکارده. (ترمذی)

دحضرت معاذ رضي الله عنه نه روايت دی چه يوصحابی د حضور ﷺ نه تپوس اوکړو، چه مجاهدينوکښې دډيراجروالاڅوک دې؟

حضور ﷺ اوفرمائيل.

اکثرهم لله تبارک وتعالی ذکرا.

څوک چه هغوی کښې زيات دالله تعالی ذکرکوی.

هغوی تپوس اوکړو، نيک خلقوکښې دټولونه زيات د اجر مستحق څوک دې؟

حضور ﷺ اوفرمائيل، څوک چه دالله تعالی ذکرزيات کوی.

بياهغه دمونځ، زکوة، حج اوصدقه دټولوذکراوکړو.

حضور ﷺ دټولوباره کښې اوفرمائيل، څوک چه دالله تعالى ذکر زيات کوي.

دې اوريدوسره حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه حضرت عمر رضی الله عنه ته اوفرمائيل، اې ابوحفص رضی الله عنه ذکرکونکي خوټول خيريوړو

حضور ﷺ اوفرمائيل، بالکل. (مسنداحمد)

حضرت ابوموسى اشعري رضی الله عنه فرمائي، چه حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلوچه:

مثل الذى يذکربه والذى لايذکره مثل الحى والميت. (بخارى)

دخپل رب په ذکرکښې مشغول اودرب دذکرنه دغافل مثال دژوندي اومړيه شان دې.

اودمسلم په روايت کښې دي چه:

مثل البيت الذى يذکرالله فيه والبيت الذى لايذکرالله فيه مثل الحى الميت.

کوم کورکښې چه دالله تعالى ذکروي، اوکوم کورچه ددې نه محروم وي، دهغوي مثال دژوندي اومړي په شان دې.

دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دي چه حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلو.

يقول الله تعالى، اناعندظن عبدى بى، وانامعه اذاذکرنى، فان ذکرفى نفسه ذکرته فى نفسى وان ذکرنى فى ملاء ذکرته فى ملاء خيرمنهم. (بخارى مسلم)

الله تعالى فرمائي چه زماتعلق خپل بنده سره دهغه دخيال مطابق دې، کوم خيال چه هغه زماباره کښې ساتي. اوکله چه هغه ما يادوي،زه دهغه سره يم. اوکه چرې هغه مازړه کښې يادوي نوزه

هم هغه زړه کښې يادوم او که هغه زما ذکر په ډله کښې کوي نوزه هم د هغه ذکر په داسې ډلې کښې کوم، کوم چه د هغه د خلقونه ډير بهتر دی (يعنې د فرښتو ډله) (بخاری، مسلم)

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه داحديث هم روايت دی. چه حضور ﷺ اوفرمائيل

سبق المفردون قالوا وماالمفردون يارسول الله قال: الذاكرون الله كثرا والذاكرات.

"مفردون، مخکښې شول.

صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو. يارسول الله! دامفردون څوک دي؟

حضور ﷺ اوفرمائيل: هغه سړی اوښځې کوم چه الله تعالى ډير يادوی. (مسلم)

## نصيحت نمبر ١٨

## د خپل نفس اصلاح کوئ!

حضرت زيد ابوالخير رضي الله عنه فرمائی چه ماعرض اوکړو. يارسول الله ﷺ ماته اووايئ چه الله تعالى کوم څيز سره د خير اراده کوی نو د هغې څه نخښه وی؟

حضور ﷺ اوفرمائيل اې زيد! ستا د سحر وخت کښې څه حالت وو؟ ماعرض اوکړو. ماته نيکی ښه ښکاريده، او د هغې ښه کار کونکی هم. او که چرې ما د هغه کار کولو قدرت لرلو نو ما به د هغې کولو کښې تندی کوله، او که چرې هغه ماته پاتې شوې وې نوزه به خفه وې، او د هغې طرف ته به مې رجوع کوله

حضور ﷺ اوفرمائيل، پس دا هم هغه نخښه ده د هغه سړی د پاره چاسره چه الله تعالى د خير اراده اوفرمائی. او که چرې

دالله تعالی ستادپاره دي نه علاوه اراده وي نو الله تعالی به تاته
هغه خیزدرکړې وي. (رزین)
دحضرت ابوایوب رضي الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل
اربع من من سنن المرسلین الحیاء والتعطر، والنکاح،
والسواک. (ترمذی)
درسولانوسنتونوکښې څلورسنتونه دی
۱: حیاء ۲: خوشبوئی، عطرلګول. ۳: نکاح کول. ۴: مسواک کول
دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ درې
ځله ارشاداوفرمائیلو، چه ایا زه تاسوته اونه وایم چه تاسوکښې
دټولونه بهترڅوک دي اوبدترڅوک دي؟
صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو. ولې نه؟
حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو.
خیرکم من یرجی خیره ویؤمن من شره، وشرکم من
لایرجیخیره ولایومن شره. (ترمذی)
تاسوکښې بهترین هغه دې چه هغه نه دخیرامیداولرلې شی،او
دهغه دشرنه محفوظ پاتې شی، اوتاسوکښې بدترهغه دې چه هغه
نه دخیرامیداونه ساتلې شی،اودهغه دشرنه محفوظ پاتې نه شی.
دحضرت ابوبکر رضي الله عنه نه روایت دی چه دحضور ﷺ نه
تپوس اوکړې شو، خلقوکښې دټولونه بهترڅوک دې؟
حضور ﷺ اوفرمائیل.
من طال عمره وحسن عمله.
دچاچه عمرډیروی اودهغه اعمال ښه وی.
بیاتپوس اوکړې شو، چه دټولونه بدترڅوک دې؟
حضور ﷺ اوفرمائیل.

من طال عمره وساء عمله. (ترمذی)
دچاچه عمر ډیروی، او دهغه اعمال بدوی.

## نصیحت نمبر ۱۹: د الله تعالی اطاعت کوئ، او د ګناهونونه ځان ساتئ!

حضرت ام انس رضي الله عنها عرض اوکړو، یارسول الله ﷺ ماته نصیحت اوفرمایئ.
حضور ﷺ اوفرمائیل، ګناه پریږده، بې شکه دا دتپولونه افضل هجرت دې، اوفرائضوباندې عمل کوه، بې شکه دا دتپولونه افضل جهاددې، اودالله تعالی ذکرډیرکوه، بې شکه ته دالله تعالی دربار کښې دذکرنه زیات محبوب عمل بل نه شې پیش کولې. (طبرانی)
دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو.
الله تعالی فرمائی چه زماتعلق خپل بنده سره دهغه دخیال مطابق دې، کوم خیال چه هغه زماباره کښې ساتی. اوکله چه هغه ما یادوی، زه دهغه سره یم. اوکه چرې هغه مازړه کښې یادوی نوزه هم هغه زړه کښې یادوم. اوکه هغه زماذکرپه ډله کښې کوی نوزه دهغه ذکرپه بهتر ډله کښې کوم. اوکه چرې هغه زماطرف ته یولیشت نزدې راشی نوزه یو ذراع (یولاس) هغه ته نزدې کیږم، اوکه چرې هغه ماته یولاس نزدې راشی نوزه یوباع (دوه لاسه) هغه ته نزدې کیږم. اوکه چرې هغه زما طرف ته راروان شی نوزمارحمت دهغه طرف ته په منډه ورځی. (بخاری)
حضرت امیرمعاویه رضي الله عنه فرمائی چه یوځل حضور ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم په یوې ډلې باندې تیر شو، حضور ﷺ ترې نه

تپوس اوفرمائیلو څه دپاره ناست یئ؟
ماعرض اوکړو، چه مونږ دالله تعالی ذکراودهغه تعریف دپاره ناست یو، چه هغه مونږته داسلام هدایت راکړو، اوداسلام په ذریعه ئې په مونږباندې احسان اوکړو
حضور ﷺ اوفرمائیل، چه په الله قسم دې نه علاوه هیڅ وجه نشته؟
صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو، په الله مونږ قسم وی؛ دې نه علاوه بله څه وجه نشته.
حضور ﷺ اوفرمائیل چه: ماتاسونه دتهمت په وجه باندې حلف وانخستلو، خوجبرائیل علیه السلام ماته راغې اوماته ئې خبر راکړو، چه الله تعالی ستاسوپه وجه باندې دفرښتومخکښې فخر کوی. (مسلم)

## نصیحت نمبر ۲۰

## د سحردوه رکعته سنت کوئ!

دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چه یوسړی حضور ﷺ ته عرض اوکړو.
یارسول الله ﷺ ماته داسې عمل اوښایئ چه دهغې په وجه باندې الله تعالی ماته فائده راکړی. حضور ﷺ اوفرمائیل: دسحر دوه سنت لازم کوه، ځکه چه دې کښې فضیلت دې. (طبرانی)
حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه یوروایت کښې دی چه مادرسول الله ﷺ نه دااوریدلی دی چه دسحرومبی دوه رکعتونه مه پریږدئ، ځکه چه دې کښې عطایانې ده.
دحضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دی رسول الله ﷺ اوفرمائیل.

رکعتاالفجر خیر من الدنیاومافیها. (مسلم)

دسحردوه رکعته سنت دټولې دنیااودې کښې چه څه دي دهغې نه بهتردی اودمسلم شریف په بوروایت کښې دی چه دادوه رکعته ماته دټولې دنیانه ډیرمحبوب دی.

ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائي

ان النبی صلی الله علیه وسلم کان لایدع اربعاقبل الظهرو رکعتین قبل الغداة. (بخاری)

چه حضور ﷺ دماسپخین نه مخکښې څلوررکعته اودسحرنه مخکښې دوه رکعته کله هم نه دی پریخودلې.

داروایت هم دام المؤمنین رضی الله عنها نه روایت دې چه:

لم یکن النبی صلی الله علیه وسلم علی شئ من النوافل اشد تعاهدامنه علی رکعتی الفجر.

رسول الله ﷺ به نفلوکښې دسحردسنتوپه شان پابندی دبل یونفل مونځ هم نه کوله.

دحضرت ابوعبدالله بلال بن رباح رضی الله عنه دالله تعالی د رسول ﷺ مؤذن نه روایت دی چه زه دسحردمونځ خبرورکولودپاره یوه ورځ راغلم نوام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها مانه دیو څوخبروتپوس اوکړو. ماهغې ته وئیل، اوکله چه فارغ شوم نواومې لیدل چه رڼراخوره شوې ده. بیاماحضور ﷺ ته خبرورکړو، چه جماعت تیاردې، حضور ﷺ بهرته تشریف راؤنه ړو، نوپه دویم ځل مې ورته خبراوکړو، بیاخو دعادت مطابق حضور ﷺ په وخت باندې حاضر شو. خوام المؤمنین چه مانه دکوموخبروتپوس کړې وو، دهغې په وجه باندې ناوخته شوې وو، اودسحررڼراخوره شوې وه. حضور ﷺ چه جمات ته تشریف راؤړو نو وې فرمائیل چه

د سحر سنت کول
عرض اوکړو، چه هغه وخت کښې خوښه کړی زړه راشوې وه
حضور ﷺ اوفرمائيل که چرې دې نه زياته زړه راهم وې
نو مابه بياهم دغه رکعتونه اداکول، اطمينان سره به مې کول اوښه
طريقې سره به مې کول (ابوداؤد)

## نصيحت نمبر ۲۱

## د مونځ دوران کښې اخوا ديخوا مه ګورئ!

ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى:
سالت رسول الله صلى الله عليه وسلم عن التفات فى الصلوة :
فقال: هواختلاس يختلسه الشيطان من صلوة العبد. (بخارى)

چه مادرسول الله ﷺ نه مونځ کښې داخوديخواکتوباره کښې تپوس اوکړوچه ددې څه حکم دې؟ حضور ﷺ اوفرمائيل چه دادشيطان ددهوکه کولويوطريقه ده، اودې سره هغه دانسان توجه دمونځ نه بل طرف ته کړی.

دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو. يابنى اياک والالتفات فى الصلاة فان الالتفات فى الصلاة هلكة. (ترمذى)

زماځويه! مونځ کښې داخواديخواکتلونه ځان ساته، ځکه چه مونځ کښې اخوديخواکتل هلاکت دې.

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل.
کله چه انسان دمونځ دپاره اودريږی(راوی فرمائی چه زماپه خيال داسې ئې اوفرمائيل چه) هغه الله تعالى سره وی. کله

چه هغه بل طرف ته متوجه شي نو الله تعالی فرمائی چه ته کوم خوا متوجه کیږې؟ ایا زمانه دبهتر طرف نه
اې دادم اولاده! زما طرف ته متوجه شه. ځکه چه زه دهغه نه بهتریم. دچا طرف ته چه متوجه کیږې (بزار)

## نصیحت نمبر ۴۲

## خپل ایمان کښې اخلاص پیدا کړئ!

حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه فرمائی چه زه یمن ته اولیږلې شوم نو ما عرض اوکړو، یارسول الله ﷺ ماته څه نصیحت اوفرمایئ. حضور ﷺ اوفرمائیل.

اخلص دینک یکفیک العمل القلیل. (مسندحاکم)

خپل دین (دالله تعالی) دپاره خالص کړه، بیا به تاته لږ عمل کښې هم ډیره فائده وی.

حضرت ثوبان رضی الله عنه فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه دا اوریدلی دی.

طوبی للمخلصین اولئک مصابیح الهدی تنجلی عنهم کل فتنة ظلماء. (بیهقی)

مبارک دې وی مخلصانو ته، هغوی دهدایت ډیوې دی، دهغوی په وجه باندې به هریوه پټه فتنه واضحه کیږی.

دحضرت ابواسامه رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو. ان الله عزوجل لایقبل من العمل الاما کان خالصا ابتغی به وجهه. (ابوداؤد)

بې شکه الله تعالی صرف دخپل ځان دپاره کړې شوې عمل نه علاوه بل څه نه قبلوی. اوصرف هغه عمل قبلوی په کوم کښې چه اصل مقصد دالله تعالی رضاوی.

حضرت عبدالرحمن بن ابوهریره رضی الله عنه روایت کونکې دي.
چه رسول الله ﷺ ارشاداوفرمائیلو

ان الله لاینظرالی اجسامکم والاالی صورکم. ولکن ینظرالی قلوبکم. (مسلم)

چه الله تعالی ستاسومخونواوبدنونوته نه گوری، بلکه ستاسوزړونوته گوری.

حضرت ابوعباس عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ ارشاداوفرمائیلو، چه الله تعالی ښه والی اوبدوالی مقرر کړې دی، اودهریودرجه ئې ښکاره طریقې سره مقررکړې ده. پس کوم کس چه صرف دنیکئ اراده اوکړه اوهغې باندې ئې عمل هم اونه کړو، بیاهم الله تعالی هغه ته دیوې مکمل نیکئ ثواب ورکوی، اوکه چرې هغه دارادې نه پس هغه نیکئ باندې عمل هم اوکړو، نودلس نیکوبرابرثواب ورته ملاویږی. دازیاتوالي اووۀ سوه چنده پورې یاددې نه هم زیاتیږی.

اوکه چرې دبدئ اراده اوکړی خوهغې باندې عمل اونه کړی نوالله تعالی هغې باندې هم هغه دیوې نیکئ ثواب ورکړی، اوکه چرې هغه دارادې نه پس هغې باندې عمل هم اوکړی نوهغه دیوې بدئ برابرلیکلې شی. (بخاری، مسلم)

## نصیحت نمبر ۲۳

## که هرڅنګه حاجت پیښ شی نودا عمل کوئ!

دحضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل

دچاچه الله تعالی طرف ته څه حاجت وی یادانسان طرف ته ئې

حاجت وي نو هغه ته پكار دي چه ښه طريقې سره اودس اوكړي بيا دوه ركعته اوكړي بيا دالله تعالى حمداوثناء بيان كړي اونبي كريم ﷺ باندې درود لوستلو نه پس دا دعا اوكړي

لااله الاالله الحليم الكريم، سبحان الله رب العرش العظيم الحمدلله رب العالمين، اسالك موجبات رحمتك، وعزائم مغفرتك والغنيمة من كل بر، والسلامة من كل اثم، لاتدع لى ذنبا الاغفرته،ولاهما الا فرجته،ولاحاجة هى لك رضا الا قضيتها ياارحم الراحمين. (ترمذى)

دالله تعالى نه علاوه څوک هم دعبادت لائق نشته، چه هغه معاف كونكې اوسخى دې. پاک دې الله اودعرش مالک دې. ټول تعريفونه دالله تعالى دپاره دى اوهغه دټولوجهانونومالک دې. اې الله زه تانه ستادرحمت اوستادمغفرت ذريعې غواړم اودهريوې نيكۍ فائدې اوهريوې ګناه نه سلامتى غواړم. زماټول ګناهونه معاف اوفرمايه، اوزماټولې پريشانۍ لرې كړه. اوزماضرورتونه كوموباندې چه ته راضى يې، پوره كړه، اې دټولونه زيات رحم كونكيه.

اوابن ماجه كښې داهم ذكرشوى دى چه بياددين اودنيا باره كښې كوم سوال اوكړى هغه وركولې شى.

## صلوة حاجات اود هغې دعا

حضرت عثمان بن حنيف رضي الله عنه نه روايت دى چه يوړوند صحابى دحضور ﷺ په خدمت كښې حاضرشواوعرض ئې اوكړو.

يارسول الله ﷺ ماد پاره الله تعالى ته دعااوفرمايئ، چه الله تعالى ماته نظرراكړى. حضور ﷺ اوفرمائيل.

ايازه تادپاره دعااوكړم، هغه عرض اوكړو، يارسول الله ﷺ زما

نظر ختميدل ماته ډيرتکليف رسوی حضور ﷺ ورته اوفرمائيل.
لاړشه اودس اوکړه، دوه رکعته مونځ اوکړه اوبيا اووايه
اللهم انى اسالک واتوجه اليک بنبيى محمدصلى الله عليه وسلم نبى الرحمة، يامحمدانى اتوجه الى ربى بک ان يكشف لى عن بصرى، اللهم شفعه فى وشفعنى فى نفسى. (ترمذى)
اې الله! زه تانه سوال کوم اوستاطرف ته دنبي، درحمت دنبي په ذريعه باندې متوجه کيږم. اې محمد ﷺ زه ستاپه وسيله باندې الله تعالى طرف ته متوجه کيږم، چه هغه ماته خپل نظر واپس کړي. اې الله دازماپه حق کښې شفيع اوګرځوه، اوماد خپل ذات دپاره شفيع جوړ کړې. بياهغه لاړواوالله تعالى هغه ته نظر واپس کړو.

## نصيحت نمبر۲۴

## د نفس د آفتونو نه ځان اوساتئ

حضرت ابوذر رضی الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ ارشاداوفرمائيلو.
درې کسان داسې دی چه الله تعالى به دقيامت په ورځ باندې هغوی سره خبرې نه کوی، اوهغوی ته به درحمت په نظر باندې نه ګوری، اونه به هغوی پاکوی اوهغوی دپاره دردناک عذاب دې. حضور ﷺ داارشاد درې ځله اوفرمائيلو
ماعرض اوکړو، اوګناهګاراوبدقسمته خلق څوک دی؟
حضور ﷺ اوفرمائيل.
دکبرپه وجه باندې پينسې دګيټونه لاندې کونکې، احسان کولونه پس وريادول. اوددروغو قسمونه خوړولوسره خپل مال خرڅونکې. (مسلم)

دحضرت ابوبرزه اسلمی رضی الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ ارشاداوفرمائیلو

كثرمااخاف عليكم شهوات الغى فى بطونكم وفروجكم ومضلات الفتن. (رزين)

ماته ستاسوباره کښې دتبولونه زیاته ویره ستاسو دخیټو اوشرمګاه دشهوت اوګمراه کونکو فتنونه ده.

دحضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ ارشاداوفرمائیلو

دظلم نه ځان ساتئ، ځکه چه ظلم به دقیامت په ورځ دتیاروپه شکل کښې وی. اودبخل نه ځآن ساتئ ځکه چه بخل ستاسونه مخکښې خلق هلاک کړل. دې بخل هغوی په دې خبره باندې راضی کړل چه هغوی دخلقووینې توې کړی اوحرام کړې شوې څیزونه حلال اوګڼړی.

دحضرت جندب رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو.

چاچه دچاعیب ښکاره کړو، الله تعالی به دهغه عیبونه ښکاره کړی. اوچاچه ریاکاری اوکړه الله تعالی به هم هغه سره هم داسې معامله اوفرمائی.(بخاری، مسلم)

## نصیحت نمبر۳۵: څوک چه دالله په نوم باندې اوغواړی هغه ته ورکوئ

دحضرت جابر رضی الله عنه نه اویوې نسخې کښې دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل. څوک چه دالله تعالی پناه اوغواړی هغه ته پناه ورکوئ. اوڅوک چه

دالله تعالی په نوم باندې او غواړی هغه ته ورکوئ، اوڅوک چه تاسو ته دعوت درکړی نو دهغه دعوت قبلوئ. اوڅوک چه تاسو سره نیکی اوکړی، نو دهغې بدله ورکوئ. که تاسو دهغې بدله نه شئ ورکولې نو هغه ته دومره دعا اوکړئ چه تاسو اوګڼړئ چه تاسو دهغې بدله ورکړه. (ابوداؤد)

## د الله تعالی په نوم باندې سوال مه کوئ!

دحضرت رافع رضی الله عنه غلام عبیده رضی الله عنه دحضرت رافع رضی الله عنه نه روایت کړی دی چه رسول الله ﷺ ارشاداوفرمائیلو. څوک چه دالله تعالی په نوم باندې سوال کوی هغه لعنتی دې. اوهغه هم لعنتی دې، چانه چه دالله تعالی په نوم باندې سوال اوکړې شی اوهغه غوښتونکی ته انکاراوکړی. (طبرانی)

دحضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل.

لایسئل بوجه الله الاالجنة. (ابوداؤد)

دالله تعالی په واسطه باندې هیڅ هم مه غواړئ، سوادجنت نه.

## نصیحت نمبر۳۶

## سوره فاتحه لولئ!

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه مارسول الله ﷺ نه دا اوریدلې دی چه الله تعالی فرمائی، مامونځ دخپل بنده اوځان مینځ کښې دوه حصوکښې تقسیم کړې دې، اوزمادبنده دپاره هغه دې، څه چه هغه غواړی.

او یو روایت کښې دی چه سورة فاتحه نیم زمادپاره دې اونیم

زمادبنده دپاره دي. كله چه بنده وائي الحمدلله رب العالمين. نوالله تعالى فرمائي حمدني عبدي زمابنده زماتعريف اوكړو. اوكله چه وائي الرحمن الرحيم نوالله تعالى فرمائي اثنى على عبدي زمابنده زماثناء بيان كړه. اوكله چه وائي مالك يوم الدين نوالله تعالى فرمائي مجدني عبدي زمابنده زمابزرګي بيان كړه، اوكله چه وائي اياك نعبدواياك نستعين. نوالله تعالى فرمائي هذابيني وبين عبدي ولعبدي ماسال زمااوزمادبنده مينځ كښې معامله دداوزما دبنده دپاره هغه څه دي، څه چه هغه اوغوښتل. اوكله چه بنده وائي اهدناالصراط المستقيم نوالله تعالى فرمائي هذالعبدي ولعبدي ماسال دازمادبنده دپاره دي، اودهغه دپاره هغه څه دي څه چه هغه اوغوښتل. (مسلم)

حضرت ابوسعيدبن معلى رضي الله عنه فرمائي چه ماجمات كښې مونځ كولوچه ماته نبي كريم ﷺ اوازاوكړو، نوماجواب ورنه كړو. بيازه دحضور ﷺ خدمت كښې حاضرشوم اوعرض مې اوكړويارسول الله ﷺ مامونځ كولو. نبي كريم ﷺ اوفرمائيل استجيبوالله وللرسول اذادعاكم. بيائې اوفرمائيل چه زه به تاته د جمات نه وتلونه مخكښې دقران كريم دټولونه اعلى سورت ښائم. بيائې زمالاس اونيولواوكله چه مونږدجمات نه وتلو، نوماعرض اوكړويارسول الله ﷺ تاسوفرمائيلي ووچه زه به تاته دقران د ټولونه اعلى سورت ښائم حضور ﷺ اوفرمائيل الحمدالله رب العالمين. كوم چه سبع المثاني اوقران مجيد كښې دي ماته راكړې شو (بخاري)

..........

## نصیحت نمبر۳۸: د لاندې ورکړې شوې سورتونو تلاوت ډیرکوئ!

دحضرت انس رضی اللہ عنہ نه روایت دی چه رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو رضی اللہ عنہم کښې یوصحابی ته اوفرمائیل:

اې فلانکیه! ایاتانکاح کړې ده؟ هغه عرض اوکړویارسول الله! مانکاح نه ده کړې. ماسره دوادهٔ دپاره هیڅ نشته. حضور ﷺ اوفرمائیل تاسره قل هو الله احدنشته؟ هغه عرض اوکړو، ولې نه، حضور ﷺ اوفرمائیل دادقران دریمه حصه ده. حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو ایاتاسره اذاجاء نصرالله والفتح نشته؟ هغه عرض اوکړو، ولې نشته. حضور ﷺ اوفرمائیل دادقران څلورمه حصه ده.حضور ﷺ بیااوفرمائیل ایاتاسره قل یاایها الکفرون نشته؟ هغه عرض اوکړوولې نشته. حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلودا څلورمه حصه قران دې. حضور ﷺ بیااوفرمائیل ایاتاسره اذازلزلت الارض زلزالها نشته؟ هغه عرض اوکړوولې نشته. حضور ﷺ اوفرمائیل داڅلورمه حصه قران دې. پس ته وادهٔ اوکړه، وادهٔ اوکړه. (ترمذی)

## د سورة اخلاص، اوسورة بقرة اخری ایتونو اود ایت الکرسئ فضائل

حضرت معاذبن انس رضی اللہ عنہ روایت کوی چه حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو.

چاچه قل هو الله احد لس ځله مکمل اولوستلو، نوالله تعالی

هغه دپاره جنت کښی یو محل جوړوی.

حضرت عمربن خطاب رضی الله عنه عرض اوکړو، یارسول الله ﷺ! بیا خوبه زمونږ محلونه ډیرزیات وی. حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو، الله تعالی پاکیزه او ډیرور کونکی دی. (مسنداحمد)

دحضرت ابوذر رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو.

ان الله ختم سورة البقرة بايتين اعطانيهما من كنزه الذی تحت العرش فتعلموهن وعلموهن نساء كم وابناءكم فانهما صلوة وقران ودعاء. (مسندحاکم)

الله تعالی دسوره بقره اخری دوه ایتونه دعرش نه لاندی خزانې نه راکړې دی. پس تاسو دزده کړئ اوخپلوښځواوبچوته ئې اوښایئ، ځکه چه هغه مونځ هم دې، قران هم اودعاهم.

دحضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دی چه نبی کریم ﷺ یوسړې دیولښکرامیرجوړکړو. کله به چه هغه خپلوملګروته مونځ ورکولونوهغې کښی به ئې قل هوالله احد وئیلو. پس کله چه هغوی واپس راغلل نوهغوی نبی کریم ﷺ ته ددې ذکراوکړو.

حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو، دهغه تپوس اوکړئ، چه هغه به داسې ولې کول. پس هغوی دهغه نه تپوس اوکړو. نوهغه جواب ورکړو. ځکه چه دې سورت کښی دالله تعالی صفت دې، اوزه داوئیل خوښوم.

حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو، هغه اووایه چه الله تعالی هم دا خوښوی. (بخاری)

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ زه درمضان دزکوة محافظ جوړکړم. پس یوسړې راغې اودهغې نه ئې

خوراک اوچت کړو ماهغه اونیولواوورته مې اووئیل چه زه تارسول الله ﷺ ته بوځم هغه اوونیل چه زه حاجت منديم زمه بچې هم دی اوماته ډیرسخت ضرورت دې. پس مادهغه لارپریخوده. زه دسحر وخت کښې دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم.

حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو، ستادشپې دقیدی څه اوشول؟ ماعرض اوکړو، یارسول الله! هغه دخپلې ښځې اوبچو دضرورت وئیلې وو. پس ماهغه باندې رحم اوکړواوهغه مې پریخودو. حضور ﷺ اوفرمائیل هغه تاته دروغ وئیلې وو، هغه بیاراځی. پس ماخوکیداری کوله. هغه راغې اودخوراک نه ئې څه اخستل، ماهغه ته اووئیل چه زه تاحضور ﷺ وړاندې کوم. هغه اووئیل ماپریږده، زه ضرورت منديم، زما بچې هم دی زه به بیانه راځم. پس ماهغه باندې رحم اوکړو، اودهغه لارمې پریخوده، سحر مانه بیاحضور ﷺ تپوس اوکړو، اې ابوهریره! ستادبیګانې قیدی څه اوشول؟

ماعرض اوکړو، یارسول الله ﷺ هغه دخپلې ښځې اود بچو دضرورت اووئیل. پس ماهغه باندې رحم اوکړواوهغه مې پریخودو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل هغه تاته دروغ اووئیل، هغه به بیاراځی. پس مابیاڅوکیداری کوله. هغه راغې اوخوراک ئې اوچتولو، پس ماهغه اونیولو، اوورته مې اووئیل چه تابه ضروردنبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضروم. دادریم اواخری ځل دې، ته داوائې چه زه به بیانه راځم. ته به بیاراځې، هغه اووئیل چه ماپریږده زه به تاته داسې کلمې اوښائم چه دهغې په ذریعه باندې به الله تعالی تاته فائده درکړی. مااووئیل چه هغه کومې دی، هغه اووئیل کله چه ته خپلې بسترې ته ځې نوایت الکرسی وایه. نودالله تعالی دطرف نه به یومحافظ ستاحفاظت کوی، اودسحرپورې به

شيطان ستاخواته هم نه شي راتلې ماهغه پريخودواوسحرماته حضور ﷺ اوفرمائيل، چه ستادشپې دقيدي څه اوشول؟ ماعرض اوكړو يارسول الله ﷺ هغه دخپل خيال مطابق ماته څه كلمې اوخودلې چه د دې په ذريعه باندې به الله تعالى ماته فائده راكړي حضور ﷺ اوفرمائيل هغه كومې دي؟ ماعرض اوكړوچه هغه ماته اووئيل، چه كله ته اودهٔ كيږې نوته دشروع نه اخرپورې ايت الكرسى لوله الله لااله الاهوالحى القيوم الخ. هغه ماته اووئيل چه دالله تعالى دطرف نه به يومحافظ ستاحفاظت كوى. اوسحرپورې به تاته شيطان بالكل نه راځى. حضور ﷺ ارشاداوفرمائيلو. هغه تاته رښتيااووئيل اوهغه پخپله باندې دروغژن دې. اې ابوهريره! تاته پته شته چه درې ورځې تاچاسره خبرې كولې. ماعرض اوكړو. نا. حضور ﷺ اوفرمائيل چه هغه شيطان وو. (بخارى)

حضرت ابى بن كعب رضي الله عنه روايت فرمائى چه دهغه پلار هغوى ته اووئيل چه هغوى سره يوه ټوكرۍ وه، په هغې كښې به ئې كهجورې اچولې. اودهغې حفاظت به ئې كولو. هغوى اوليدل چه هغې ټوكرۍ نه كهجورې كميږى. پس هغوى يوه شپه دهغې څوكيدارى اوكړه نوديوبالغ هلك په شان يوځناورراغې. هغه فرمائى چه ماسلام اوكړو، هغه جواب راكړو. بياورته مااووئيل چه ته څوك يې،انسان كه پيرې؟ هغه اووئيل چه پيرې. ماورته اووئيل چه ماته خپل لاس اوښايه، دهغه لاس دسپې په شان وو، اوويختهٔ ئې دسپى دويختوپه شان وو. ما اووئيل چه داپيرې دې. هغه اووئيل چه پيريانوته پته ده چه هغوى كښې زماپه شان طاقتوربل څوك نشته. ماورته اووئيل چه تاته دداسې كولوچاوئيلى دى؟ هغه اووئيل چه ماته پته لږيدلې ده چه تاسوصدقه خوښوۍ،ما اوغوښتل چه زه ستاسودخوراک نه واخلم.ماهغه ته اووئيل چه

تاسو پيريانونه به مونږ کوم يو څيزبچ کوی، هغه اووئيل ايت الكرسى پلار صاحب مې فرمائی چه ما هغه پريخودو. سحر مې پلار صاحب د حضور ﷺ خدمت کښې حاضر شواو حضور ﷺ ته ئي اووئيل نو حضور ﷺ اوفرمائيل چه هغه خبيث رښتيا وئيلي دی (ابن حبان)

# د سورة اخلاص او معوذتين فضيلت

حضرت معاذ بن عبدالله بن حبيب د خپل پلار نه روايت کوی چه هغوی اوفرمائيل چه يوه يوځل مونږ د باران والاشپې په تيارهٔ کښې اووتلو. مونږ د حضور ﷺ په تلاش کښې وو، چه هغوی مونږته مونځ راکړی. پس مونږ ته حضور ﷺ ملاؤ شو. حضور ﷺ اوفرمائيل، قل (اووايه)، اونورئې هيڅ هم اونه فرمائيل، بيائې اوفرمائيل قل، (اووايه) اوبيائې نور څه اونه فرمائيل. بيائې اوفرمائيل، قل، (اووايه) ما عرض اوکړو يارسول الله ﷺ زه څه اووايم؟ حضور ﷺ اوفرمائيل قل هوالله احد او اخری دواړه قل سحر او ماښام درې درې ځله وايه. دا به تاته د هر يو څيز نه فائده مندوی. (ابوداؤد)

د حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو.

الم ترايات انزلت الليلة لم يرمثلهن قل اعوذبرب الفلق وقل اعوذبرب الناس. (مسلم)

اياتاسو د شپې نازل شوې ايتونو نه خبرنه يئ. چه د دې مثال نه دې ليدلې شوې. قل اعوذب برب الفلق اوقل اعوذبرب الناس.

اوهم د مسلم شريف الفاظ دی چه حضرت عقبه رضی الله عنه فرمائی

چه زه د سفر دوران کښې حضور ﷺ نه مخکښې ناست ووم. چه حضور ﷺ اوفرمائیل. اې عقبه! ایا زه تاته هغه سورتونه اونه ښایم. کوم چه لوستلې کیدونکې سورتونوکښې بهترین دی، بیا حضور ﷺ ماته قل اعوذ برب الفلق اوقل اعوذ برب الناس اوخودل.

دحضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دی چه یوځل زه حضور ﷺ دجحفه اوبواپه مینځ کښې روان ووم، چه مونږ طوفان اوتیږ ؤ کښې ګیرشو. پس حضور ﷺ دقل اعوذبرب الفلق اودقل اعوذ برب الناس په ذریعه باندې پناه اوغوښتله. اووې فرمائیل اې عقبه! ددې دواړوسورتونوپه ذریعه باندې دالله تعالی نه پناه غواړه. یوپناه غوښتونکې هم ددې سورتونوپه ذریعه باندې غوښتلې شوې پناه په شان پناه نه ده غوښتلې. حضرت عقبه رضی الله عنه فرمائی چه مادحضور ﷺ نه اوریدلی دی چه دې دواړو سورتونو سره مونځ کښې امامت وایئ. (ابوداؤد)

دحضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اقراء یاجابر اې جابروایه. ماعرض اوکړو زما موريلاردې تاسوباندې قربان شی، څه اوویم. حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو. قل اعوذبرب الفلق اوقل اعوذبرب الناس. مادادواړه اولوستل نوحضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو. دادواړه لوله، اوته ددې دواړوپه شان بل سورت نه شې لوستلې. (نسائی)

## نصیحت نمبر۲۸

## سنت ژوندی کوئ!

حضرت عمروبن عوف رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم ﷺ حضرت بلال بن حارث رضی الله عنه ته یوه ورځ اوفرمائیل. اې ابوبلال پوهه

شه؛ هغوي عرض اوكړو يارسول الله ﷺ څه بانديږ؟ حضور ﷺ اوفرمائيل خبر دار اوسه؛ چاچه زمامړ شوې سنت ژوندې كړونو هغه ته به هغه سنت باندې دعمل كونكو مطابق ثواب ملاويږي او دعمل كونكي په ثواب كښې به هم كمې نه راځي.

اوچاچه دګمراه كولو بدعت شروع كړو، نو هغه نه به الله تعالى اودهغه رسول ﷺ راضي نه شي. او هغې باندې دعمل كونكو په ګناهونو كښې به هم كمې نه راځي. (ترمذي)

دحضر عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دى چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو.

**من تمسک عندفسادامتي فله اجرمائة شهيد. (بيهقي)**

زما كوم امتي چه دفساد په وخت كښې زما سنت باندې عمل كوي. دهغه دپاره دسلو (١٠٠) شهيدانو ثواب دې.

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل فله اجرشهيد نو دهغه دپاره دشهيد ثواب دې.(بيهقي)

حضرت عرباض بن ساريه رضي الله عنه روايت كونكې دې چه رسول الله ﷺ داسې خائسته اواثركونكى اندازكښې وعظ اوفرمائيلو، چه زمونږ دستر ګونه اوښكې رواني شوې، زړونو كښې مووېره ويره پيداشوه. مونږ عرض اوكړو يارسول الله ﷺ داسې ښكارى چه دا اخرى وعظ وى. مونږ ته نورنصيحتونه هم اوفرمايئ. حضور ﷺ اوفرمائيل زه تاسو ته دالله تعالى نه دويريدووصيت كوم. كه تاسو ته (حكم كونكې) څوك حبشي غلام ستاسو حاكم او امير جوړ كړې شي. تاسو كښې چه زمانه پس څوك ژوندې وى هغه به ډيرزيات اختلافات اووينى. هغه وخت كښې تاسو باندې لازم دى چه زما سنت اوزمانه هدايت اخستونكو خلفاء طريقه خپله

کړی، او دهغوی طریقې مضبوطې سره اونیسئ دین کښې دنوې خبرو پیدا کولو نه ځان ساتئ ځکه چه هر یوبدعت ګمراهی ده
(ابوداؤد، ترمذی)

## نصیحت نمبر ۲۹

## دنیا کښې زهد اختیارکړئ!

دحضرت ابوعباس سهل بن سعدالساعدی رضی الله عنه نه روایت دی چه یوسړې دنبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضرشواوعرض ئې اوکړو یارسول الله ﷺ داسې عمل طرف ته زماراهنمائی اوفرمایئ چه کله زه هغه کوم نوچه الله تعالی اوټول خلق ماخوښوی.

حضور ﷺ اوفرمائیل.

ازهد فی الدنیایحبکم الله وازهدفیماعندالناس یحبک الناس. (ابن ماجه)
دنیاکښې زهداختیارکړه، الله تعالی به تاسره مینه کوی، اوڅه چه خلقوسره دی هغې کښې زهداختیارکړه، خلق به تاسره مینه کوی.

## د نبی کریم ﷺ په دنیا کښې زهد

دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ په چټایئ باندې ملاست وو. بیابیدارشو، نود حضور ﷺ په ملاباندې دچټایئ نخښې وې. مونږعرض اوکړو، یارسول الله ﷺ که چرې مونږتاسودپاره نرمه بستره پیداکړو؟ رسول الله ﷺ ارشاداوفرمائیلو.

مالی وللدنیاماانافی الدنیاالاکراکب استظل تحت شجرة ثم راح وترکها. (ترمذی)

زمادپاره دنیانه ده. زمامثال خودنیاکښې دیومسافرپه شان دې،

چه هغه ديوې ورځې لانديې خوړې اوموندلو، اوارام ئې اوکړو، اوبيائې هغه پريخود.

دحضرت عبيدالله بن محصن الانصاري الخطمي رضي الله عنه نه روايت دى چه رسول الله ﷺ ارشاداوفرمائيلو.

**من اصبح منكم امنافى سربه معافى جسده، عنده قوت يومه فكانماحيزت له الدنيابحذافيرها.** (ترمذى)

تاسوکښې چه کوم کس دسحروخت کښې خپل نفس، زړه اود کورواﻻدطرف نه دامن په حالت کښې وى، دهغه بدن هم تندرست وى، اوهغه سره دهغې ورځې رزق هم وى نولکه چه هغه ته دټول سامان سره دنياورکړې شوې.

دحضرت سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه نه روايت دى چه دنبي کريم ﷺ په خدمت کښې يوسړې حاضرشواوعرض ئې اوکړو يارسول الله ﷺ ماته وړوکې شان وصيت اوکړئ.

حضور ﷺ ارشاداوفرمائيلو.

**عليک بالاياس ممافى ايدى الناس واياک والطمع فانه فقرحاضرواياک ومايعتذرمنه.** (حاكم، بيهقى)

خلقوسره چه څه دى دهغې نه مايوسه شه، اودطمعې نه ځان ساته ځکه چه دې کښې فقردې، اوداسې کارونونه ځان ساته دکوموپه وجه باندې چه معافى غوښتل وى.

دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى چه رسول الله ﷺ زمادواړه اوږې اونيولې اووې فرمائيل.

**كن فى الدنياکانک غريب اوعابرسبيل.**

دنياکښې دمسافرپه شان اوسيږه، بلکه لاربانديې د تلونکى سړى په شان.

حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ به فرمائيل چه کله ما ښام شي نو سحر باندې نظر مه کوه او کله چه سحر شي نو ما ښام ته نظر مه کوه. او د خپل صحت په وخت کښې د مرض د پاره څه حاصل کړه او خپل ژوند کښې د مرګ د پاره حاصل کړه. (بخاری)

د حضرت جابر بن عبدالله رضی اللہ عنہ نه روایت دی چه یو ځل حضور ﷺ بازار کښې روان وو، او یو طرف ته او بل طرف ته ترې نه صحابه کرام رضی اللہ عنہ روان وو، حضور ﷺ د یوې چیلۍ بچی باندې تیر شو، چه د هغې دواړه غوږونه ډیر واړه وو. حضور ﷺ هغه د غوږونو نه اونیولو او راؤچت ئې کړو، او صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ته ئې اوفرمائیل تاسو کښې به څوک داپه یو درهم باندې اخستل خوښوی، نو ټولو صحابه کرامو رضی اللہ عنہم عرض اوکړو چه مونږ کښې څوک هم داپه هیڅ قیمت باندې اخستل نه خوښوی. او مونږ به دې باندې څه کوؤ؟

بیا حضور ﷺ اوفرمائیل چه مفت ئې څوک اخستل خوښوی؟ نو ټولو اووئیل چه په الله مو دې قسم وی که چرې دا ژوندې هم وې نو دې کښې عیب وو. د دې دواړه غوږونه د نیشت برابر دی. او اوس خو دا مړ هم دې، زمونږ د څه کار دې؟ دې باندې حضور ﷺ اوفرمائیل په الله تعالی مې دې قسم وی د الله تعالی په نزد باندې دا دنیا د دې نه هم ذلیله ده، څنګه چه دا بچې ستاسو د پاره دې.

(مسلم)

حضرت ابوذر غفاری رضی اللہ عنہ فرمائی چه زه حضور ﷺ سره د مدینې په علاقه مقام حره کښې روان ووم. کله چه د احد غر زمونږ مخې ته راغې نو حضور ﷺ اوفرمائیل اې ابوذر! ما عرض اوکړو چه حاضریم. حضور ﷺ اوفرمائیل چه زما دا هم نه دی خوښ چه دا احد غر برابر ما سره سرۀ زروی او هغې کښې یو دینار هم ما سره

پاتې شي خود قرض ادا کولو د پاره باقي پاتې کيدې شي، زه به داسې کوم چه مخکښې روستو، ښي او ګس طرف ته به ئې د الله تعالى بند ګانو ته. ورکولو سره به هغه ټول ختم کړم.

دې فرمائيلو سره بيا روان شو، او څه وخت پس ئې اوفرمائيل: ددې ځائې مالدار به عام طور باندې د قيامت په ورځ غريبانان راپاسي، او هغه خلق ترې نه مستثنی دی کوم چه خپل مال مخکښې روستو، ښي او ګس طرف ته د الله تعالى په لار کښې خرچ کوی، او داسې خلق ډيرزيات کم دی. بيائې ماته اوفرمائيل، زما راتلو پورې دا ځائې مه پريږده. بيا حضور ﷺ د شپې په تيارهٔ کښې زما د نظر نه غائب شو، دغه دوران کښې ما يو اوچت اواز واؤريدو، زه ويريدم چه چرته حضور ﷺ سره څه حادثه نه وی شوې. د حالاتو معلومولو د پاره ما هلته تلل غوښتل خو د حضور ﷺ هدايت راته ياد شو چه خپل ځائې مه پريږده. پس زه د حضور ﷺ د راتلو پورې هم هغه ځائې کښې ووم. حضور ﷺ تشريف راؤړو، نو ما د اواز باره کښې د حضور ﷺ نه تپوس اوکړو. حضور ﷺ اوفرمائيل چه تا اواز اوريدلې وو؟ ما عرض اوکړو، چه او، حضور ﷺ اوفرمائيل دا جبرائيل وو، او ماته دې وئيلو د پاره راغلې وو، چه زما امت کښې څوک مړشي او هغه الله تعالى سره شرک نه وی کړې نو هغه به جنت ته داخليږی. ما عرض اوکړو که هغه زنا هم کړې وی؟ که هغه غلا هم کړې وی؟ حضور ﷺ اوفرمائيل اګرچه هغه غلا او زنا هم کړې وی. (بخاری، مسلم)

......

## نصیحت نمبر ۳۰

## د دوزخ نه پناه غواړئ!

دحضرت حارث بن مسلم تمیمی رضی الله عنه نه روایت دی چه نبی کریم ﷺ ماته ارشاداوفرمائیلو، کله چه ته دسحرمونځ اوکړې نو چاسره خبرو کولونه مخکښې اووۀ ځله وایه.

اللهم اجرنی من النار.

اې الله! ماته داورنه خلاصې راکړه.

که چرې ته هغه ورځ باندې مړشوې نوالله تعالی به ستا دپاره ددوزخ نه خلاصې اولیکی. اوکله چه دماښام مونځ اوکړې نوچاسره خبرو کولونه مخکښې اووۀ ځله وایه.

اللهم اسئلک الجنة اللهم اجرنی من النار.

اې الله! زه تانه دجنت سوال کوم. اې الله! ماته ددوزخ داورنه خلاصې راکړه.

پس که ته چرې دشپې مړشوې نوالله تعالی به تاپاره ددوزخ نه خلاصې اولیکی.

## نصیحت نمبر ۳۱

## د جنتی جوړیدو د پاره داطریقه اختیارکړئ!

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه یوبانډیچی دنبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضرشو، اوعرض ئې اوکړو یارسول الله ﷺ ماته دداسې عمل ارشاداوفرمایئ چه زه هغې باندې عمل کولوسره جنت ته داخل شم، حضور ﷺ اوفرمائیل.

تعبدالله لاتشرک به شیئاوتقیم الصلوة المکتوبة وتوتی الزکوة المفروضة وتصوم رمضان.

د الله تعالی عبادت کوه، او هغه سره څوک شریک مه جوړوه، او فرض مونځ قائموه، او فرض زکوة اداکوه، او د رمضان روژې نیسه.

هغه عرض اوکړو، په هغه ذات مې دې قسم وی دچا په قبضه کښې چه زماساه ده، زه به نه دې نه زیات کوم، او نه به کم کوم. بیا هغه لاړو، نو حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو.

من سره ان ینظرالی رجل من اهل الجنة فلینظر الی هذا.

(بخاری، مسلم)

څوک چه غواړی چه زه جنتی سړې اووینم نو هغه دې، دغه سړې اووینی.

## نصیحت نمبر۳۲

## د استخارې مونځ کوئ!

دحضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ به څنګه مونږته دقران کریم سورتونه خودل، دغه شان به ئې مونږته په اهم کارونو کښې استخاره هم خودله. اوفرمائیل به یئ، کله چه تاسو کښې څوک دڅه کار په وجه باندې پریشان وی نو هغه دې دفرضونه علاوه دوه رکعته(نفل) مونځ اوکړی او بیا دې اووائی.

اللهم انی استخیرک بعلمک واستقدرک بقدرک واسئلک من فضلک العظیم فانک تقدرولااقدروتعلم واعلم وانت علام الغیوب. اللهم انی کنت تعلم ان هذاالامرخیرلی فی دینی ومعاشی

وعاقبة امري. فاقدره لي ويسره لي ثم بارک لي فيه. وان کنت تعلم ان هذاالامر شرلي في ديني ومعاشي وعاقبة امري. فاصرفه عني واصرفني عنه واقدرلي الخير حيث کان. ثم ارضني به. (بخاري)

اې الله! زه تانه ستا دعلم په ذريعه باندې خيرغواړم، او ستا دقدرت په ذريعه باندې قدرت غواړم، اوستانه ستادفضل سوال کوم. بې شکه ته قدرت لرونکې ئې زه قدرت نه لرم. اوتاته پته شته ماته نشته. اوتاته دغيبودخبروعلم شته. اې الله! که تاته پته وی چه داکار زماددين اودنيااوزمادژوندد پاره بهتردې نودا زمادپاره اسان کړه. اوکه تاته پته ده چه داکازمادين دنيا د ژوند دپاره بددې نوداکارمانه لرې کړې اومادې نه لرې کړې. اومادپاره چه هرځنګه وی خيرمقدرکړه. اوماهغې باندې راضی کړه.

حضور ﷺ اوفرمائيل چه دهــذاالامر په ځائې باندې دې خپل حاجت بيان کړی.

# د استخارې فائدې

دحضرت سعدبن ابی وقـاص رضی الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ ارشاداوفرمائيلو.

من سعادة ابن ادم استخارته الله عزوجل.

دادم داولادپه سعادت کښې دهغه دالله تعالی نه استخاره کول دی. (مسنداحمد، ابويعلی، حاکم)

اودااضافه هم نقل شوې ده. ومن شقوة ابن ادم ترکه استخارة الله. اودادم داولادبدنصيبی دې کښې ده چه هغه دالله تعالی نه استخاره پريږدی.

............

# نصيحت نمبر ۳۳

## د پريشانئ او تکليف وخت کښې دا دعا کوئ!

د حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دی که حضور ﷺ اوفرمائيل اې علي! اياز ه تاته داسې کلمې اونه ښايم چه کله تاته څه غم يا تکليف وی نوته د خپل رب نه هغه دعا اوکړه، چه دالله تعالی په حکم باندې قبوله شی او ستا پريشانی ختمه شی. او دس کولو سره دوه رکعته مونځ اوکړه، دالله تعالی او حمد او ثناء بيان کړه. په خپل نبی ﷺ باندې درود او وايه، دخپل ځان دپاره او مومنانو دپاره استغفار اوکړه. بيا دا دعا اوغواړه.

اللهم انت تحكم بين عبادک فيما كانوا فيه ليختلفون، الااله الاالله العلى العظيم، الااله الاالله العليم الكريم، سبحان الله رب السموت ورب العرش العظيم، الحمدالله رب العالمين، اللهم كاشف الغم مفرج الهم، مجيب دعوة المضطرين اذادعوک، رحمن الدنيا والاخرة ورحيمهما فارحمني في حاجتي هذه بقضائها ونجاجها رحمة تغنينيها عن رحمة من سواک.

اې الله! هم ته به دخپلو بندګانو مينځ کښې ددې خبرې فيصله فرمائې، په کومو کښې چه دهغوی اختلاف وی. اې الله، ستا نه علاوه څوک دعبادت لائق نشته. دکرم کونکی او معاف کونکی الله نه علاوه څوک دعبادت لائق نشته. هغه الله پاک دې، کوم چه داووه واړو اسمانانو او عرش رب دې. ټول تعريفونه دهغه الله تعالی دپاره دی کوم چه دټولو جهانونو پروردګار دې. اې الله! اې غم او پريشان لرې کونکيه! اې دمجبورانو دعا قبلونکيه! کله چه هغوی تاته اواز اوکړی. اې ددنيا او اخرت رحمن او رحيمه! زما دا

مشکل لرې کړه او دا پریشانی مې حل کړه، او ما باندې رحم اوفرمایه چه د هغې په وجه باندې زه د نورو خلقو د رحم نه مستغنی شم (اصبهانی)

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل ماته حضرت جبرائیل علیه السلام د دعا کلمې راؤړې. او هغه اووئیل کله چه تاسو ته دنیا کښې څه مشکل پیښ شی نو تاسو دا دعا کوئ، او بیا د خپل حاجت سوال کوئ

یابدیع السموت والارض یاذوالجلال والاکرم، یاصریخ المستصرخین، یاغیاث المستغیثین، یاکاشف السوء، یاارحم الرحمین، یامجیب دعوة المضطرین، یااله العالمین، بک انزل حاجتی، وانت اعلم بهافاقضها. (اصبهانی)

اې د نمونې نه بغیر د زمکې او اسمان جوړونکیه! اې د عزت او بزرګئ مالکه! اې د چغو وهونکو چغې اوریدونکیه! اې د فریاد کونکو فریاد اوریدونکیه! اې تکلیف لرې کونکیه! اې د ټولونه زیات رحم کونکیه! اې د مجبور خلقو دعا قبلونکیه! اې د ټولو جهانونو پروردګاره! زه هم ستا مخکښې خپل مشکل بیانوم. ته دې باندې ښه پوهیږې پس هم ته ئې حل کړه.

## نصیحت نمبر ۳۴

## ډیرې سجدې کوئ!

حضرت ابوفراس ربیعه ابن کعب اسلمی رضی الله عنه د حضور ﷺ په خادمانو او اهل صفه کښې دې. هغه فرمائی چه ما به حضور ﷺ سره شپه تیروله، او د حضور ﷺ د اودس او قضائے حاجت د پاره به مې اوبه راؤړلې. ماته حضور ﷺ اوفرمائیل، مانه اوغواړه. ما

عرض اوکړو. زه تاسونه جنت کښې ستاسو د ملګرتيا سوال کوم. حضور ﷺ اوفرمائيل، د دې نه علاوه ما عرض اوکړو بس هم دا حضور ﷺ اوفرمائيل. نو ډيرو سجدو کولوسره زما مدد کوه (مسلم)

د حضرت ابوعبدالله رضي الله عنه يا حضرت ابوعبدالرحمن ثوبان رضي الله عنه نه روايت دى، هغه فرمائي چه ما د حضور ﷺ نه دا اوريدلي دي: ځان باندې ډيرې سجدې کول لازم کړئ. پس تاسو چه کله هم الله تعالى ته سجدې کوئ نو هغه به ستاسو يوه درجه اوچتوي، او ستاسو يوه ګناه به معاف کړي. (مسلم)

د حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دى، هغه فرمائي چه ما د حضور ﷺ نه اوريدلي دي. چه بې شکه د شپې يو داسې وخت راځي چه هغه وخت کښې مسلمان د دنيا او اخرت د خير باره کښې د الله تعالى نه چه هرڅه غواړي، هغه ته ورکولې شي. او دا وخت هره شپه راځي. (مسلم)

د حضرت ابومالک اشعري رضي الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل.

کوم کس چه د شپې راويخ شي او خپله ښځه هم ويخه کړي او که چرې ښځې باندې ئې د خوب غلبه وي نو د هغې په مخ باندې اوبه واچوي، بيا دواړه ښځه او خاوند خپل کور کښې د څه وخت دپاره د الله تعالى ذکر اوکړي، نو الله تعالى هغوى دواړه بخښي .
(طبراني في الکبير)

حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه فرمائي چه حضور ﷺ به دعبادت دپاره او دريدو نو پښو کښې به ئې پرسوب پيدا شو . حضور ﷺ ته عرض اوکړې شو، چه الله تعالى خو ستاسو ټول مخکښې روستې ګناهونه معاف فرمائيلي دي . حضور ﷺ اوفرمائيل .ايا زه شکر ګذاربنده جوړ نه شم) .بخاري مسلم(

حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی، چه حضور ﷺ مونږ ته دشپې دمونځ کولو حکم اوفرمائیلو، اودې حدپورې ئې ترغیب راکړو. دشپې مونځ کوئ، که یو رکعت ولې نه وی. (الطبرانی فی الکبیر)

## نصیحت نمبر ۳۵

## خلقوباندې خوراک کوئ، سلام کوئ اود شپې مونځ کوئ

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی ماعرض اوکړو، چه اې رسول الله ﷺ کله چه زه تاسوته گورم نوزمازړه خوشحاله شی اوزما سترګې ویخې شی .ماته دټولوڅیزونوباره کښې اووایئ. حضور ﷺ اوفرمائیل .ټول څیزونه داوبونه پیداشوې دی .ماعرض اوکړو، ماته دڅه داسې څیزباره کښې اووایئ، چه هغې باندې عمل کولوسره زه جنت ته داخل شم .حضور ﷺ اوفرمائیل، خلقو باندې خوراک کوه، سلام کوه، صله رحمی کوه اوکله چه دشپې خلق اوده وی مونځ کوه .ته به سلامتئ سره جنت ته داخل شې. (مسنداحمد، صحیح ابن ابی الدنیا، صحیح ابن حبان)

دحضرت ابومالک اشعری رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل.

جنت کښې داسې کمرې دی چه دهغې بهرنئ حصه ددننه اودننه حصه دبهریه نظرراځی .داکمرې الله تعالی دهغه سړی دپاره تیارې کړې دی، کوم چه خلقوباندې خوراک کوی، سلام کوی، اوکله چه دشپې خلق اوده وی مونځ کوی.

دحضرت عبدالله بن عمروبن عاص رضی الله عنه نه روایت دی چه ان رجلاسال رسول الله ﷺ ای الاسلام خیر؟ قال: تطعم الطعام، وتقرا السلام علی من عرفت ومن لم تعریف. (صحیح بخاری)

يوسړي د حضور ﷺ نه تپوس اوكړو چه داسلام د ټولونه بهترين عمل كوم يو دې؟ حضور ﷺ اوفرمائيل، چه مسكينانو باندې خوراک كول، اوپيژندګلواو ناپيژندګلوته سلام كول

## نصيحت نمبر ۳۶

### • ګاونډي سره ښه سلوک كوه

د حضرت ابوذر رضی الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل.

اې ابوذر! كله چه ته خوروا پخوې نو هغې كښې اوبه ډيرې اچوه، او د خپلو ګاونډيانو خيال ساته. (مسلم)

او حضرت ابوذر رضی الله عنه په يوروايت كښې داسې فرمائى. زما دوست ماته وصيت اوفرمائيلو. كله چه ته خوروا پخوې نو هغې كښې اوبۀ ډيرې واچوه، او بيا هغه خوروا كښې خپلو ګاونډيانو سره نيكى كوه.

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل.

من كان يؤمن بالله واليوم الاخرة فلايؤجاره، ومن كان يوئمن بالله واليوم الاخرفليكرم ضيفه، ومن كان يومن، بالله واليوم الاخرفليقل خيراويسكت. (بخارى)

كوم كس چه الله تعالى او د قيامت په ورځ باندې ايمان لرى، هغه دې خپل ګاونډى ته تكليف نه رسوى. كوم كس چه الله تعالى او د قيامت په ورځ باندې ايمان لرى، هغه دې د خپل ميلمه اكرام كوى. كوم كس چه الله تعالى او د قيامت په ورځ باندې ايمان لرى، هغه دې ښه خبره كوى ګنى چپ دې اوسى.

د حضرت عبدالله بن عمر او حضرت عائشه رضی الله عنهما نه روايت دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.

مازال جبرايل يوصيني بالجار حتى ظننت انه سيورثه) بخاري، مسلم)

چه جبريل عليه السلام ماته دګاونډيانوپاره كښې دومره ډيرتاكيداوكړو، چه ماوئيل كيدې شي ګاونډي په ميراث كښې هم شريك كړې شي.

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل، په الله مې دې قسم وى هغه مومن نه دې، په الله مې دې قسم وى هغه مومن نه دې، په الله مې دې قسم وى هغه مومن نه دې .صحابه كرامو رضي الله عنهم عرض اوكړو يارسول الله ﷺ څوك مومن نه دې؟ حضور ﷺ اوفرمائيل .دچادشراوفسادنه چه دهغه ګاونډى محفوظ نه وى) .بخارى، مسلم)

اودمسلم په يوروايت كښې دى چه هغه به جنت ته نه ځى، دچادشرارتونونه چه دهغه ګاونډى محفوظ نه وى.

هم ددې حديث روايت كونكې حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.

يانساء المسلمات لاتحقرن جارة لجارتهاولوفرسن شاة.

(البخارى، مسلم)

اې مسلمانانوښځو !تاسوديوې ګاونډۍ تحفه كمزورې مه ګڼړئ .كه هغه دچيلۍ نوكه ولې نه وى.

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل .يوګاونډى دې هم خپل ګاونډى په ديوال كښې دلرګى وركولونه نه منع كوى .ددې روايت بيانولووخت كښې حضرت ابوهريره رضي الله عنه هلته ناست خلقوته اووئيل، چه زه وينم چه تاسو دا خبره نه منئ .خوپه الله مې دې قسم وى داخبره به زه ستاسوپه اوږو باندې غورزوم) .يعنى تاسوته به ئې ضرور كوم)) بخارى، مسلم)

# نصیحت نمبر ۳۷

## مسکینانوسره مینه کوئ

حضرت ابوذر رضی الله عنه فرمائی چه زمادوست ماته اووهٔ نصیحتونه اوفرمائیل.

۱ :چه زه دې مسکینانوسره مینه ساتم، اوهغوی ته دې نزدې اوسم.

۲ :چه زه دنیاوی معامله کښې دځان نه ښکته خلقوته ګورم. دځان نه اوچتې درجې والاسړی ته دې نظرنه کوم.

۳ :چه زه دې صله رحمی کوم، اګرچه هغوی ماباندې ظلم کوی.

۴ :چه زه دې لاحول ولاقوة الابالله :ډیروایم.

۵ :زه دې حق خبره کوم اګرچه هغه بده ولې نه لږی.

۶ :زه دالله تعالی په معامله کښې دچاملامته کونکی دملامته کولوپرواه نه ساتم.

۷ :زه دې خلقونه څه سوال نه کوم.

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل.

الساعی علی الارملة والمسکین کالمجاهدفی سبیل الله واظنه، قال: وکالقائم الذی لایفتروو کالصائم الذی لایفطر. (بخاری، مسلم)

دمسکینانواوکونډوخبراخستونکې، دالله په لارکښې د جهادکونکی په شان دې .دروایت کونکی خیال دې چه حضور ﷺ داهم اوفرمائیل، چه دهغه مثال دداسې عبادت ګذارپه شان دې، کوم چه نه ستړې کیږی .اودداسې روژه داردې کوم چه کله هم روژه نه ماتوی.

امیرالمومنین حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه مکاتب غلام، چه هغه مالک ته څه پیسې ورکولونه پس ازادکیدونکې وو، هغه

ماته راغې اووئې ونیل چه زه دپیسوجمع کولونه عاجزراغلې یم تاسوزماځه مدداوکړئ ماهغه ته اوونیل، که ته اغواړې نوزه به تاته داسې کلمې اوښایم کومې چه حضور ﷺ ماته خودلې دی، که چرې تاباندې دغربرابرقرض هم شی نوالله تعالی به دهغې کلموپه برکت باندې هغه اداکړی .ته داکلمې لوله.

اللهم اکفنی بحلالک عن حرامک واغنی بفضلک عمن سواک. (ترمذی)

اې الله !خپل حلال مال زمادپاره پوره اوګرځوه. دخپل حرام کړې شوې مال په مقابله کښې.اودخپل فضل اوکرم په ذریعه باندې دخپل ځان نه علاوه دنورچانه مابې نیازه اومستغنی اوفرمایه.

## نصیحت نمبر۳۸

## خپل زړه کښې غِنی پیداکړئ

حضرت ابوذر رضی اللہ عنہ فرمائی چه مانه حضور ﷺ تپوس اوفرمائیلو، چه ایاته داګنړې چه غِنی دمال دزیاتوالی نوم دې؟ ماعرض اوکړو، یارسول الله او .حضور ﷺ اوفرمائیل.

ایاته داګنړې چه غریبی دمال دکمی نوم دې؟ ماعرض اوکړو، یارسول الله ﷺ او .حضور ﷺ اوفرمائیل.

ربښتونې غنی خودزړه غنی دې، اوربښتونې غریب خودزړه غریب دې .دچاپه زړه کښې چه مالداری وی، ددنیایوڅیزهم هغه ته نقصان نه شی رسولې، اودچاپه زړه کښې چه غریبی وی ددنیازیاتوالې هغه نه شی مالدارولې .دهغه دپاره دهغه دزړه کینه نقصان ورکونکې ده .(ابن حبانؒ)

## نصيحت نمبر ۳۹

## تقوی اختيارکړه

حضرت ابوذر رضی الله عنه فرمائي ماعرض اوکړو، يارسول الله ﷺ ماته نصيحت اوفرمايئ .حضور ﷺ اوفرمائيل .تقوی (دالله تعالی نه ويره) اختيارکړه .هم داد ټولو څيزونوبنيادده ماعرض اوکړو يارسول الله انورنصيحت هم اوفرمايئ.
حضور ﷺ اوفرمائيل، دقران پاک تلاوت کوه، داتلاوت به ستا دپاره زمکه باندې نوراواسمان کښې به ذخيره جوړيږي.
(ابن حبان)

## نصيحت نمبر ۴۰

## د قران پاک تلاوت کوه

دحضرت ابوامامه باهلي رضی الله عنه نه روايت دی، هغه فرمائي چه مادحضور ﷺ نه دااوريدلي دي، دقران تلاوت کوه، ځکه چه قران به دقيامت په ورځ دتلاوت کونکودپاره به شفاعت کوي.
ددوؤ روښانه سورتونو، سورة بقره اوال عمران تلاوت کوئ، پس دابه دقيامت په ورځ دوريځ اوڅوري په شکل کښې راځي .ياهغوی به دمرغودسيل په شان راځي .دادواړه به دخپل لوستونکوباره کښې جهګړې کوي .سورة البقره لولئ، ځکه چه ددې اختيارول دبرکت ذريعه ده اوددې پريخودل دحسرت ذريعه ده، اوجادوګرددې مقابله نه شي کولې) .مسلم)
دحضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه نه روايت دی چه حضور ﷺ اوفرمائيل .يقال لصاحب القران.

اقرا وارتق ورتل کما کنت ترتل فی الدنیا، فان منزلک عند اخر ایت تقرؤها. ترمذی)

دقران حافظ ته به اووئیلې شی، قران لوله، اوپه قلار قلار باندې وایه، څنګه به چه تادنیاکښې قلار قلار روئیلو. پس ته چه دتلاوت کوم اخری ایت اولولې هغه به ستاځائې وی.

## نصیحت نمبر ۴۱

## مال خرچ کوه

حضرت انس بن مالک رضی اللہ عنہ فرمائی. دبنوتمیم یوسړې دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضرشواوعرض ئې اوکړویارسول الله ﷺ، زه ډیرزیات دولت مندیم، مالداره هم یم، اومحله دارهم یم. ماته اووایئ، زه څنګه خرچ اوکړم؟ حضور ﷺ اوفرمائیل دخپل مال نه زکوة اداکوه، ځکه چه زکوة پاکی ده، هغه به تاپاک کړی. خپلوخپلوانوسره صله رحمی کوه. اوسوال کونکی، ګاونډی او مسکین ته خپل حق ورکوه( .مسنداحمد)

## نصیحت نمبر ۴۲

## د پریشانئ اوقرض اداکولو د پاره دا دعا لولئ

حضرت ابوسعیدخدری رضی اللہ عنہ فرمائی یوه ورځ حضور ﷺ جمات ته داخل شونوهلته حضرت ابوامامه رضی اللہ عنہ ناست وو. حضور ﷺ اوفرمائیل .اې ابوامامه !زه تادې وخت کښې دمونځ نه علاوه جمات کښې وینم؟ هغه عرض اوکړو، یارسول الله ﷺ ماته څه پریشانئ دی، اوڅه قرض راباندې دې. حضور ﷺ اوفرمائیل، ایازه تاته داسې کلمې اونه ښایم؟ چه کله ته هغه

اولولې نوستاپريشانۍ به ختمې شي اوستاقرض به هم اداشي هغه عرض اوكړو، اې دالله رسوله اولې نه حضور ﷺ اوفرمائيل، سحراوماښام دادعاكوه

اللهم اعوذبک من الهم والحزن، واعوذبک من العجزوالكسل، واعوذبک من البخل والجبن، واعوذبک من غلبة الذين وقهرالرجال.

اې الله! زه ستاپناه غواړم دغم اوپريشانۍ نه، اوستاپناه غواړم دعاجزۍ اوسستۍ نه. اوستاپناه غواړم دبزدلۍ اوبخيلۍ نه، اوستاپناه غواړم دقرض دغلبې اودخلقودقهرنه.

حضرت ابوامامه رضي الله عنه فرمائى چه ماهم داسې كول شروع كړل، نوالله تعالى زماپريشانۍ ختمې كړې اوزماقرض ئې هم ختم كړو(ابوداؤد)

# نصيحت نمبر۴۳

## د اودهٔ كيدونه مخكښې دا دعا لولئ

دحضرت ابوعمارة البراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل، اې فلانكيه! كله چه ته خپلې بسترې ته راشې نودادعاكوه.

اللهم اسملت نفسى اليک ووجهت وجهى اليک وفوضت امرى اليک، والجات ظهرى اليک رغبة ورهبة اليک لاملجا ولامنجى منک الاالیک، امنت بكتابک الذى انزلت، ونبيک الذى ارسلت فانک ان مت من ليلتک مت على الفطرة وان اصبحت اصبحت خيرا. (بخارى، مسلم)

اې الله ماخپل ځان تاته حواله کړو، ماخپل مخ ستاطرف ته کړو، ماخپله معامله ستاحواله کړو. ماخپل ځان ستاپناه کښې داخل کړو. ستاطرف ته رغبت ساتلوسره اوتانه ويريدوسره. زمادخلاصي موندلوځائې هم ستاطرف ته دی ماستاپه هغه کتاب باندې ايمان راوړوکوم چه تانازل کړې دې، اوهغه رسول ﷺ باندې ايمان راوړوکوم چه تاراليږلې دې.

که چرې ته په هغه شپه باندې مړشوې نوته دين اسلام باندې مړشوې، اوکه چرې تاباندې سحرشونوهغه سحربه خيريت سره راځی.

دحضرت ابوسعيدخدری رضی الله عنه نه روايت دې چه حضور ﷺ اوفرمائيل .کوم سړې چه خپلې بستره کښې سملاستووخت کښې دااووائی.

استغفر الله الذی لااله الاهوالحی القيوم واتوب اليه.

زه الله تعالی نه دمغفرت سوال کوم، چه دهغه نه علاوه څوک دعبادت لائق نشته .هغه ژوندې دې، قائم ساتونکې دې .زه هغه ته توبه کوم.

نودهغه ټول ګناهونه به معاف کړې شی که هغه دسمندر دزګ برابرولې نه وی، که دونودپاڼروبرابروی، اوکه دصحرا دشګې برابروی اوکه ددنيادورځوبرابروی( .ترمذی)

دحضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دی چه حضور ﷺ اوفرمائيل .کوم سړې چه خپلې بستره کښې سملاستووخت کښې دا اووائی.

الحمدلله الذی کفانی واوانی والحمدلله الـذی اطعمـنی وسـقانی والحمدلله الذی من علی فاضل، فقدحمدلله لجميع محامدالخلق کلهم.

(بيهقی)

ټول تعريفونه دهغه الله دپاره دی، چه زمادپاره کافی دي، اوچاچه ماته داوسيدوځائې راکړې دي ټول تعريفونه دهغه الله دپاره دی، چاچه ماته خورک څکاک راکړو، اوټول تعريفونه دهغه الله دپاره دی، چاچه ماباندې احسان اوفضل اوفرمائيلو .نوهغه انسان دالله تعالی ټول تعريفونه بيان کړل کوم چه ټول مخلوق بيانوی.

دحضرت ابوذرغفاری اوحضرت حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی چه:

ان رسول الله كان اذااتى الى فراشه قال: **باسمک اللهم احيا واموت**

رسول الله ﷺ بـه چـه کلـه اوده کيـدودپاره بـسترې تـه تشريف راوړونوفرمائيل به ئې، **باسمک اللهم احياء واموت.**

حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو .تاسوکښې چه کله څوک اوده کيدودپاره بسترې ته لاړشي نوهغه ته پکاردی چه دلنګ ياقميص په ذريعه باندې بستره اوځنډی، هيڅ پته نشته چه دهغه دتلونه پس پکښې څه ځيزنه وی غورزيدلې .بسترې ځنډلونه پس دې داکلمې اووائی.

**باسمک ربي وضعت جنبي وبک ارفعة ان امسکت نفسي فارحمها وان ارسلتها فاحفظها بماتحفظ به عبادک الصالحين.** (بخاری، مسلم)

ستانوم سره اې الله زه بستره کښی مسلم ، اوددې نه پاسم کـه چرې تـه زماساه واخلې نوبيادې باندې رحم اوفرمايه .اوکه چرې دازادکړې(چه ژوندې پاتې شی) نوبياددې داسې حفاظت اوفرمايه ځنګه چه دخپل نيک بندګانوحفاظت فرمائې.

ام المـومنين حـضرت عائـشه صـديقه رضي الله عنها فرمـائی چـه حـضور ﷺ بـه کلـه خپلې بـسترې تـه تـشريف راوړونومعـوذات لوستلوسره به ئې لاسونوباندې چوف کول اوبيابـه ئـې لاسونه ټول بدن باندې وهل( .بخاری، مسلم)

یوروایت کښې دی چه، هرشپه بسترې ته تشریف راوړلو سره به نبی کریم ﷺ دواړه لاسونه یوځائې کړل بیابه ئې قل هوالله، قل اعوذبرب الفلق اوقل اعوذبرب الناس لوستلوسره هغې باندې دم کړل اوبیائې بدن باندې چه کوم کوم ځائې ته لاس رسیدو. لاس اووهلو، شروع به ئې دسراومخ نه کوله. اومخکښې به ئې دبدن مبارک په مخکښې حصه باندې لاس وهلو اودرې ځله به ئې داسې کول( بخاری، مسلم)

حضرت حذیفه رضی الله عنه فرمائی چه کله به حضور ﷺ اوده کیدو نو ښې لاس به ئې دښی مخ لاندې کیخودلواودادعابه ئې لوستله

**اللهم قنی عذابک یوم تبعث عبادک.** (ترمذی)

اې الله !ماد هغې ورځ دعذاب نه بچ کړې، کومه ورځ باندې به چه ته خپل بندګان اودروې.

اوابوداؤپه روایت دام المومنین دحضرت حفصه(ها) دابیان کړې دی چه حضور ﷺ به دادعادرې ځله فرمائیله.

# نصیحت نمبر۴۴

# چه د شپې خوب نه درځی نودا دعا لولئ!

حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه فرمائی، چه مانبی کریم ﷺ ته دشپې دخوب نه راتلوشکایت اوکړو، حضور ﷺ اوفرمائیل .داوایه.

اللهم غارت النجوم، وهدات العیون، وانت حی قیوم، لاتاخذسنة ولانوم یاحی یاقیوم، اهدی لیلی، وانم عینی، فقلتها فاذهب الله عزوجل عنی ماکنت اجد.

اې الله تول ستوری بدل شول، سترګوته سکون ملاؤشو، اوته خوژوندې ئې، قائم پاتې کیدونکې، تاته خونه خوب درځی

اونه سترلې والې. اوژوندې او قائم اوسیدونکی ذاته! زماشپه د سکون والاجوړه کړه، اوزماسترګې اوده کړه.
مابه دادعاکوله، پس الله تعالی زماشکایت ختم کړو(ابن السنی)

حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه ته چه کله دخوب نه راتلوشکایت وو، نوحضور ﷺ هغه ته دادعااوخودله.

اللهم رب السموت السبع وماظلت ورب الارضين وماقلت، ورب الشياطين وماضلت كن لى جاراً من شرخلقك كلهم جميعا ان يفرط على احدمنهم وان يطغى، عزجارك، وجل ثنائك.

اې الله! اې داوؤ واړواسمانانواوزمکوربه! اې دزمکو، اوڅه چه زمکوکښې دی دهغې ربه! اې دشیطانانواوکوم چه هغوی ګمراه کوی دهغوی ربه! ته ماته دخپل ټول مخلوقاتو دشرنه پناه راکړه. چه هغوی کښې څوک ماباندې غالب اوسرکش نه شی، ستاپناه دعزت والاده اوستاتعریف بزرګ دې.
اویوروایت کښې دالفاظ هم دی. تبارك اسمك والااله الاانت. ستانوم برکت والادې، اوستانه علاوه څوک دعبادت لائق نشته.

## نصیحت نمبر ۴۵

## قیامت ته نزدې وخت کښی دا وایئ!

حضرت ابوسعیدخدری رضی الله عنه فرمائی چه یوسړی عرض اوکړو، یارسول الله ﷺ خلقوکښې به دټولونه افضل څوک وی؟
حضور ﷺ اوفرمائیل. کوم کس چه دخپل مال اوځان په ذریعه باندې دالله تعالی لارکښې جهاداوکړی.

هغه تپوس اوکړو، بیاڅوک؟ حضور ﷺ اوفرمائیل. هغه کس کوم چه یوغارکښې ناستې سره دالله تعالی عبادت کوی.

او یو روایت کښې دي چه هغه به د الله تعالی نه ویریږی او خلق به د خپل شر نه محفوظ ساتی ( بخاری، مسلم)

د حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل . ډیرزر به د مسلمان بهترین مال هغه چیلئ شی کومې به چه هغه د غرد پاسه یا داسې ځائې کښې کوم ځائې کښې چه باران کیږی څروی . هغه به خپل دین کښې دفتنې دویرې نه اوتختی ( .بخاری)

## نصیحت نمبر۴۶: که یوې ډلې کښې بده خبره اوشی نو توبه اوکړئ

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل . کوم سړی چه یوې ډلې کښې ډیرې زیاتې بدې خبرې کړې وی، نو هغه دې د خپل مجلس نه پاسیدو نه مخکښې دااووائی.

اشهد ان لا اله الا انت استغفرک واتوب الیک، الاغفرله ماکان فی مجلسه ذالک ( .ابوداؤد، ترمذی)

زه ګواهی ورکوم چه د الله تعالی نه علاوه څوک د عبادت لائق نشته . زه تا ته استغفار کوم او ستا طرف ته متوجه کیږم . نو د هغه به هغه ډله کښې کړې شوې ټولې خبرې معاف کړې شی.

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمائی چه ډیر کم داسې شوې دی چه حضور ﷺ د یو مجلس نه پاسیدلې وی او دا کلمې ئې نه وی وئیلې.

اللهم اقسم لنامن حشیتک ماتحول به بینناوبین معاصیک ومن طاعتک ماتبلغنابه جنتک ومن الیقین ماتهون به علینامصائب الدنیا اللهم متعنا باسماعنا وابصارنا وقوانا احییتنا واجعله الوارث

مناواجعل ثارنا على من ظلمناوانصرعلى من عاداناولاتجعل مصيبتنافى ديننا ولاتجعل الدنيااكبرهماولامبلغ علمناولاتسلط علينامن لايرحمنا. (ترمذی)

اې الله مونږته داسې ويره نصيب کړه، کومه چه زمونږاو ستا نافرمانۍ کښې ديوال جوړشي، اومونږته خپل اطاعت هغه درجه راکړه، چه هغه مونږستاجنت ته اورسوي، اوداسې يقين راکړه، چه دهغې په ذريعه باندې مونږدپاره ددنيامصيبتونه اسان شي، اوخوښوري چه مونږژوندي يو، مونږته زمونږد اوريدو، ليدو، او زمونږدطاقت نه مونږته دفائدې اخستلواسباب راکړه .اې الله ددې ځيزونومونږته وارثان هم راکړه، اوڅوک چه مونږباندې ظلم کوي ته دهغوی ظلم هم هغوی پورې محدودداوساته .اودهغه مقابله کښې زمونږمدداوفرمايه څوک چه مونږسره مهرباني نه شي کولې هغه مونږباندې مه مسلط کوه.

حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه حضور ﷺ اوفرمائيل.

مامن قوم يقومون من مجلس لايذكرون الله تعالى فيه الاقاموا عن مثل جيفة حمار وكان لهم حسرة. (ابوداؤد)

ديوداسې مجلس نه کوم کښې چه دالله تعالى نوم نه وي اخستلې شوې، دپاسيدونکي مثال داسې دې، لکه چه دمړخرنه راپاسي، اوهغه افسوس کوي.

## نصيحت نمبر ۴۷

## تسبيح لولئ!

حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمائي چه حضور ﷺ اوفرمائيل، چه زه تاته دوه داسې کلمې اونه ښايم؟ کومې چه دالله تعالى دتولونه ډيرې

خوښوي دی .ماعرض اوکړو .تاسوماته هغه کلمې اوښایئ کومې چه دالله تعالی خوښوي دی .حضور ﷺ اوفرمائیل.

ان احب الکلام الی الله سبحان الله وبحمده. (مسلم)

بې شکه دالله تعالی دټولونه خوښوي خبرې سبحان الله وبحمده، دی.

یوروایت کښی دی چه دحضور ﷺ نه تپوس اوکړې شو، چه دټولونه افضل کلمه کومه یوه ده؟ حضور ﷺ اوفرمائیل.

مااصطفی الله لملائکة,والعباده سبحان الله وبحمده. (مسلم)

کومه چه الله تعالی دخپلوفرښتواوخپلوبندګانودپاره خوښه کړې ده .اوهغه سبحان الله وبحمده ده.

دحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل.

کوم کس چه سبحان الله وبحمده اووئیلې، نوهغه دپاره جنت کښی دکهجورې یوه ونه اوکرلې شی( .بزار)

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل.

چه دوه کلمې په خولې باندې سپکې دی، خووزن کښی درنې دی، اوهغه دالله تعالی خوښې دی .سبحان الله وبحمده، سبحان الله العظیم( .بخاری)

## نصیحت نمبر۴۸

## استغفار کوئ!

دحضرت شدادبن اوس رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل .چه سیدالاستغفاردادی چه انسان داسې اووائی.

اللهم انت رب لااله الاانت خلقتنی واناعبدک واناعلی عهدک

ووعدک مااستطعت اعوذبک من شرماصنعت ابوء لک بنعمتکعلی وابوء بذنبی فاغفرلی فانه لایغفرالذنوب الاانت. (بخاری)

کوم کس چه دورځې يقين سره داکلمې اووائی، پس که چرې دماښام نه مخکښې هغه مړشی نوهغه به جنت ته ځی اوکوم کس چه دشپې يقين سره داکلمې اووائی نوکه چرې دسحرکيدونه مخکښې هغه مړشی نوهغه به جنت ته ځی.

حضرت غرمزنی رضی الله عنه روايت کوی چه حضور ﷺ اوفرمائيل.

انه ليغان علی قلبی، وانی لاستغفرالله فی اليوم مائة مرة. (مسلم)

چه کله کله زمازړه باندې پرده شان راشی، په هغه ورځ باندې زه سل ځله استغفاروايم.

حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمائی چه مادرسول الله ﷺ نه اوريدلی دی.

والله انی استغفرالله واتوب اليه فی اليوم اکثرمن سبعين مرة. (بخاری)

په الله مې دې قسم وی چه زه ورځ کښې داويا ځلونه زيات استغفارکوم.

داروايت هم دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه حضور ﷺ اوفرمائيل.

والذی نفسی بيده لولم تذنبواالذهب الله تعالی بکم وجاء بقوم يذنبون فيستغفرون الله تعالی فيغفرلهم. (مسلم)

په الله مې دې قسم وی که تاسوکښې دګناه کولو صلاحيت پاتې نه شی، نوالله تعالی به ستاسوپه ځائې يوداسې قوم راولی چه هغوی به ګناهونه کوی، اوبيابه توبه کوی، اومغفرت به غواړی، اوالله تعالی به هغوی معاف کوی.

# نصیحت نمبر ۴۹

## جنت کښې ونې اولږوه!

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه ماونې لږولې، دغه وخت کښې حضور ﷺ راغې نو حضور ﷺ اوفرمائیل اې ابوهریره !ایاته ونې لږوې؟ ماعرض یارسول الله ﷺ دځان دپاره ونه لږوم. حضور ﷺ اوفرمائیل. زه تاته ددې نه ښه ونې لږول اونه ښائم؟ ماعرض اوکړو، یارسول الله ولې نه. حضور ﷺ اوفرمائیل چه:

سبحان الله والحمدلله، ولااله الاالله،والله اکبر، تغرس لک بکل حدة شجرة فی الجنة.

الله پاک دې، ټول تعریفونه دهغه دپاره دی، دهغه نه علاوه څوک دعبادت لائق نشته هغه ټولونه اوچت دې. نوستادپاره به دهریوې کلمې په بدله کښې جنت کښې یوه ونه اولږولې شی( ابن ماجه)

# نصیحت نمبر ۵۰: لږمانانو(زهریله ځناورو)

## نه بچ کیدودپاره داعمل کوئ

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه یوسړې دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضرشواوعرض ئې اوکړو، یارسول الله ﷺ تیره شپه زه یولړم اوچچلم، حضور ﷺ اوفرمائیل. که چرې دماښام وخت کښې داکلمې لوستلې وې نوهغه تاته نقصان نه شودرکولې.

اعوذبکلمات الله التامات من شرماخلق.

زه دالله تعالی دکلماتوپه ذریعه باندې دهغه د مخلوق دشرنه پناه غواړم( مسلم، ترمذی)

يوبل روايت کښي دي چه کوم سړي دري ځله پورته بيان شوي کلمې اووائي نوهغه ته دشپې يوزهريله ځناورهم تکليف نه شي رسولې

حضرت سهيل رضي الله عنه فرمائي، چه زمونږ کورکښي به داکلمې خودلې کيدې اوټول کوروالوبه هره شپه داکلمې لوستلې زمونږدکوريوه ماشومه يوځل يوزهريله ځناوراوخوړله، خوهغې بالکل تکليف محسوس نه کړو.

# د زهريله ځناورو دچيچلو

# د سورة الفاتحه په ذريعه باندې علاج

حضرت ابوسعيدخدري رضي الله عنه فرمائي، چه دصحابه کرامو رضي الله عنهم يوه ډله په سفرباندې روانه وه .اوهغوی دعربويوکلي ته اورسيدل اوهغوی ته ئې دميلمستيا باره کښي اووئيل خوهغوی انکار اوکړو .دهغې کلي سرداريوزهريله ځناوراوخوړلو .هغوی ډيرزيات کوشش اوکړو، خودهغوی کوشش په کاررانغلو .هغې خلقو کښي چااووئيل چه تاسودغه قافلې والاته ورشئ کومه چه دکلي خواکښي ده، کيدې شي چه دهغوی نه څه څيزملاؤشي .پس هغه خلق صحابه کرامو رضي الله عنهم ته ورغلل اوورته ئې اووئيل .اې قافلې والو! زمونږسردارچرته زهريله ځناوراوخوړلو، مونږ ډير زيات کوشش اوکړو، خويوڅيزهم هغه ته فائده نه ورکوی .تاسو کښي چاسره څه شته؟ يوصحابي اووئيل، چه اوزه دم کولې شم، خومونږتاسوته دميلمستيا باره کښي وئيلې وواو تاسوزمونږ ميلمستيا اونه کړه، زه هغه وخت پورې دم نه کوم ترڅوپورې چه تاسوددې هديه مقررنه کړئ .هغوی دهغه صحابي رضي الله عنه سره

دچیلوپه یوې رمې باندې خبره اوکړه هغه صحابی تشریف یوړو، او سورة الفاتحه باندې ئې دم کړو، اودهغې په وجه باندې د سردارپه مرض کښې څه فرق راغې .پس هغه ګرځیدل شروع کړل اودهغه درد بالکل ختم شو .اودکلی خلقو مقررکړې شوې معاوضه دهغه صحابی رضی الله عنه په خدمت کښې حاضرکړه .بعضې صحابه کرامو رضی الله عنهم اووئیل چه ته داهدیه تقسیم کړه، خوهغه دم کونکی صحابی اووئیل چه پخپله باندې ئې مه تقسیموئ .مونږبه دحضور ﷺ خدمت کښې حاضریدوسره ټوله واقعه بیانوؤ .

ګوروچه نبی کریم ﷺ څه حکم کو؟

پس هغوی دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضرشول اوټوله خبره ئې وړته اوکړه، نو حضور ﷺ اوفرمائیل تاته څنګه پته اولږیده چه ددې سورة په ذریعه باندې هم دم کیږی .بیا حضور ﷺ اوفرمائیل .چه تاسوصحیح اوکړل، داچیلۍ تقسیم کړئ .اوماته هم خپله حصه راکړئ( .دې فرمائیلوسره) حضور ﷺ په خنداشو .

(بخاری)

## نصیحت نمبر ۵۱: د قرض اداکولو اود رزق د فراخئ د پاره دا دعا کوئ

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه ماته حضرت ابوبکر رضی الله عنه تشریف راؤړو، اووې فرمائیل چه مادحضور ﷺ نه یوه دعا اوریدلې ده، کومه چه ماته حضور ﷺ خودلې ده .حضرت عائشې رضی الله عنها اووئیل چه هغه کومه دعاده؟ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه اوفرمائیل چه دادعابه حضرت عیسی علیه السلام خپلوملګروته خودله .حضور ﷺ ددې دعاباره کښې اوفرمائیل

که چرې تاسو کښې دچاپه ذمه باندې دسروزرو دغربرابرقرض هم وی اود الله تعالی نه دادعا کوی نو الله تعالی به دهغه قرض اداکړی

اللهم فارج الهم، كاشف الغم مجيب دعوة المضطرين، رحمن الدنيا والاخرة ورحيمهما انت ترحمنى فارحمنى برحمة تغنينى بها عن رحمة من سواك.

اې الله! اې دغمونولرې کونکیه .اې دمجبورخلقو دعا قبلولو والا !اې ددنیااواخرت رحمن اورحیمه! هم ته مابانديې رحم اوفرمایه،پس دخپل رحمت نه مابانديې رحم اوفرمایه، چه هغه ماستادرحمت نه علاوه دنورورحمتونونه بې پرواه کړی.

حضرت ابوبکر رضی الله عنه فرمائی چه مابه الله تعالی نه هم دادعاکوله، پس الله تعالی ماته نفع نصیب کړه، اودهغې په وجه باندې زماقرض اداشو.

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی مابه :ادعاکوله، څه ورځې پس الله تعالی ماته رزق راکړو، اودهغې په وجه باندې زماقرض اداشو .هغه مال خونه دصدقې په طورباندې ملاؤشوې وواونه دمیراث په طورباندې .ماخپل کوروالوکښې هم هغه مال تقسیم کړو اومادحضرت عبدالرحمن رضی الله عنه لورته دسپینوزردرې درې اوقیه کالی جوړکړل. بیاهم مونږسره ډیرزیات مال پاتې شو( بزار)

حضور ﷺ ارشاداوفرمائیلو، اې معاذ !ایازه تاته یوه دعااونه ښایم؟ چه ته هغه دعاکوې، اوکه تاباندې دغرهومره قرض هم وی، نوالله تعالی به هغه اداکړی .اې معاذ !ته دالله تعالی نه دادعاکوه .اووایه.

اللهم مالک الملک تؤتی الملک من تشاء وتنزع الملک ممن

تشاء وتعز من تشاء وتذل من تشاء بيدک الخير انک علی کل شئ قدير، تولج اليل فی النهار وتولج النهار فی اليل وتخرج الحی من الميت وتخرج ميت من الحی وترزق من تشاء بغير حساب رحمن الدنيا والاخرة ورحيمهما تعطی من تشاء منها، وتمنع من تشاء ارحمنی رحمة تغننيی بها عن رحمة من سواک (طبرانی)

اې الله! اې دبادشاهت مالکه! ته چه چاته غواړې بادشاهت ورکوې، او چا نه چه غواړې بادشاهت واخلې. او ته چه چاته غواړې عزت ورکړې او چاته چه غواړې ذلت ورکړې. او ستا په لاس کښې ټول عزتونه دی. بې شکه ته هر يو څيز باندې قدرت لرونکې ئې. ته شپه ورځ کښې داخلوې او ورځ کښې شپه داخلوې، ته د مړی نه ژوندې او د ژوندی نه مړې راؤباسې، او ته چه چاته غواړې بې حسابه رزق ورکوې. اې د دنيا او اخرت رحمن او رحيمه! ته چه چاته غواړې د خپل رحمت نه ورکوې او چاته چه نه غواړې نه ورکوې. ما باندې رحم اوفرمايه. چه هغه ما ستا نه علاوه د نورو ټولو رحمونو نه بې پرواه کړی.

## نصيحت نمبر ۵۲

## په ښه کارونو کښې خرچ کوئ!

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه فرمائی چه يو سړی د حضور ﷺ نه تپوس اوکړو. د ټولو نه بهتر اسلام څه دې؟ حضور ﷺ اوفرمائيل

تطعم الطعام وتقرأ السلام علی من عرفت ومن لم تعرف.

ته خلقو باندې خوراک کوه، او چه ته څوک پيژنې او که نه هر چاته سلام کوه.

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل .کله چه خلقوباندې سحرشی نودوه فرښتې راکوزې شی .هغوی کښې یوه وائی.

اللهم اعط منفقاخلفا.

اې الله !خرچ کونکی وته بدله ورکړه.

اودویمه فرښته وائی.

اللهم اعط ممسكاتلفا.

اې الله !دنه خرچ کونکی مال ضائع کړه( .بخاری، مسلم)

دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل.

لاحسدالافی اثنتین رجل اتاه الله مالافسطه علی هلكته. ای انفاقه. فی الحق، ورجل اتاه الله حكمة فهویقضی بهاویعلمها.

ددوه سړونه علاوه چاته هم پسخیدل نه دی پکار.

١ :هغه سړې، چاته چه الله تعالی مال ورکړې وی اوهغه ئې حق ځائې کښې خرچ کړی.

٢ :هغه سړې چاته چه الله تعالی علم ورکړې وی اوهغه دهغې په ذریعه باندې فیصلې کوی، اوخلقوته ددې تعلیم ورکوی.

(بخاری، مسلم)

دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل .تاسوکښې چاته دخپل مال نه زیات دخپل وراث مال محبوب دې؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم اوکړویارسول الله ﷺ مونږ.تولوته خپل مال محبوب دې. حضور ﷺ اوفرمائیل .چه دانسان مال خوهغه دې کوم چه هغه مخکښې اولیږی، اودهغه دوارث مال هغه دې کوم چه هغه روستوپریږدی( .بخاری)

دحضرت عدي بن حاتم رضي الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل

اتقوا النار ولو بشق تمرة.

ددوزخ نه ځان اوساتئ، كه دكهجورې يوټكړې سره وى.

(بخاري، مسلم)

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل چه الله تعالى فرمائى.

انفق يابن ادم ينفق عليك.

اې دادم اولاده !خرچ كوه، تابانديې به هم خرچ اوكړې شى.

(بخاري، مسلم)

دحضرت ابوامامه صدى بن عجلان رضي الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: اې دادم اولاده! كه تاسو دخپل ضرورت نه زياتى مال خرچ كړئ نودا به تاسودپاره بهتروى، اوكه چرې تاسوئې اوساتئ نوداسې كول به تاسودپاره بدوى .دضرورت مطابق جمع كولوسره تاسوباندې هيڅ ملامتيانشته.

خرچ كښى شروع دهغوى نه كوه دكوموكفالت چه ستاپه ذمه وى. (يعنى ښځه اوبچى) پورتنې لاس دلاندينى لاس نه بهتردې( .مسلم)

دحضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دى چه داسلام نه پس دحضور ﷺ نه څه غوښتلې شوې دى، حضور ﷺ هغه وركړې دى.

يوكس حضور ﷺ ته راغې اوحضور ﷺ هغه ته دچيلو هغه جوړه وركړه كومه چه ددوؤغرونوپه مينځ كښى وه، هغه سړې خپلې قبيلې ته لاړواووې وئيل خلقو !اسلام قبول كړئ، ځكه چه محمد ﷺ دومره څه وركوى چه دغريبئ اولوږې هيڅ ويره نه پاتې

كيږي. او كه يوسړى به د دنيوى فائدې دپاره اسلام قبول كړو نويو خوو رځې به هغه عام حالت كښې وو، وولږوخت پس به هرڅه بدل شول. ځكه چه دنيا كښې به هغه ته دټولونه محبوب اسلام شو (مسلم)

حضرت اميرالمومنين حضرت عمرفاروق رضي الله عنه فرمائى چه يوځل رسول الله ﷺ په خلقو كښې څه مال تقسيم كړو، نو ما عرض اوكړو، يارسول الله ﷺ دې خلقونه زيات خونور خلق مستحق دى.

حضور ﷺ اوفرمائيل. دوى مانه ډيراصرارسره غوښتلې دى، اوس به زه دوى ته څه وركوم ګنى دوى به ماشوم اوګنړى. اوزه شوم نه يم) پس ددوى دسوال كولوپه وجه باندې مادوى ته وركړل، دنورونه ډيرمستحق ګنړلوپه وجه باندې نه (مسلم)

# نصيحت نمبر ۵۳

## سحر، ماښام اودكورنه وتلووخت كښى داوايئ

حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائى چه حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه عرض اوكړو، يارسول الله ﷺ ماته داسې كلمې اوښايئ، چه زه هغه سحراوماښام وايم. حضور ﷺ اوفرمائيل. داوايه.

اللهم فاطرالسموت والارض، عالم الغيب والشهادة رب كل شئ ومليكه اشهدان لااله الاانت اعوذبک من شرنفسى ومن شرالشيطان وشركه (ابوداؤد، ترمذى)

اې الله ! اې دزمكې اواسمان جوړونكيه ! اې دغيبو او ښكاره پيژندلو والا ! اې دهريوخيزمالكه، زه ګواهى وركوم چه ستانه علاوه څوک دعبادت لائق نشته. زه ستاپناه غواړم دځپل

نفس د شرنه او دشیطان د شرنه او دهغه دشرک نه .ته دا کلمې سحر
او مابنام او بسترې باندې د سملاستو وخت کښې وایه.

ام المومنین حضرت ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه حضور ﷺ
به کله د کورنه وتلونو دا دعا به ئې فرمائیله.

بسم الله توکلت علی الله اللهم انی اعوذبک ان اضل اواضـل، او
ازل او ازل او اظلم او اظلم، اواجهل اویجهل علی( .ابوداؤد)

دالله په نوم باندې !ماالله تعالی باندې بهروسه اوکړه .اې
الله !زه ستاپناه غواړم، ددې خبرې نه چه زه ګمراه شم، یامابل
څوک ګمراه کړی یاددې نه چه زه اوخویږم یاماڅوک اوخویوی،
اوددې نه چه زه ظلم اوکړم یامابانډې ظلم اوشی، اوددې نه چه زه
جهالت اختیارکړم، یامابانډې بل څوک جهالت اختیارکړی.

دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چه حضور ﷺ
اوفرمائیل .کوم سړې چه کورنه وتلووخت کښې دااووائی.

بسم الله توکلت علی الله لاحول والاقوة الابالله.

دالله تعالی په نوم باندې ماپه الله تعالی باندې بهروسه
اوکړه .هیڅ طاقت اوقوت نشته خودالله تعالی سره، نوهغه ته
وئیلې شی .تاته هدایت حاصل شو، ستادپاره کفایت اوشو، اوته
بچ کړې شوې .اوداسې سړی نه شیطان لرې اوسی( .ابوداؤد)

حضرت انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی چه حضور ﷺ
حضرت فاطمه رضی الله عنها ته اوفرمائیل .زه چه تاته کوم نصیحت کوم
ته هغه ولې نه اورې؟ ته سحراومابنام داوایه.

یاحی یاقیوم برحمتک استغیث، اصلح لی شانی کله،
ولاتکلنی الی نفسی طرفة عین( .نسائی)

اې ژوندې اوسیدونکیه !اې قائم پاتې کیدونکیه !زه

ستا د رحمت خیر غواړم زما ټول حالات صحیح کړه، او ما د یوې لمحې د پاره هم خپل حال باندې مه پرېږده (یعنی زما مدد او فرمایه)
حضرت عبدالله بن حبیب رضی الله عنه وائی چه ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل، چه ته داوایه.

قل هوالله احد والمعوذتین، حین تمسی وتصبح، ثلاث مرات، تکفیک عن کل شیٔ (ابوداؤد)

چه سحر او ما ښام قل هوالله احد پوره او معوذتین درې درې ځله وایه. دا به تا ته د هر یو څیز نه فائده در کوی (هیڅ تکلیف یا نقصان به تا ته نه رسی)

امیرالمومنین حضرت عثمان رضی الله عنه فرمائی چه حضور ﷺ اوفرمائیل.

مامن عبدیقول فی صباح کل یوم ومساء کل لیلة، بسم الله الذی لایضرمع اسمه شیٔ فی الارض ولافی السماء وهوالسمیع العلیم، ثلاث مرات الالم یضره شیٔ (ابوداؤد، ترمذی)

چه یو بنده هم داسې نشته څوک چه هره ورځ او هر شپه دا کلمې درې ځله وائی، خو دالله تعالی په حکم به څه څیز هغه ته نقصان نه شی رسولې. دالله تعالی نوم سره (ما سحر او ما ښام کړو) چه د غه هغه د نوم په برکت باندې د زمکې او اسمان هیڅ څیز نقصان نه شی رسولې او هغه اورېدونکې او علم لرونکې دې.

............

# نصيحت نمبر ۵۴

## د عهدې سوال مه کوه!

حضرت ابوسعيد عبدالرحمن بن سمره رضي الله عنه فرمائي چه ماته حضور ﷺ اوفرمائيل اې عبدالرحمن بن سمره !دعهدې سوال مه کوه .که تاته دغوښتلونه بغيريوه عهده ملاؤشي نوهغه به ستاذمه داري وي .اوکله چه ديوې خبرې دپاره قسم اوخورې اوتاته دهغې نه بله خبره بهتربنکاري نوبهترخبرې باندې عمل کوه، اودخپل قسم کفاره اداکړه( .بخاري، مسلم)

حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمائي چه مارسول الله ﷺ ته عرض اوکړو، چه يارسول الله ﷺ تاسوماته عمل نه ښايې؟ حضور ﷺ خپل لاس مبارک زمايه اوږه باندې کيخودواووې فرمائيل.

ياباذرانک ضعيف وانهاامانة، وانهايوم القيامة خزى وندامة الامن اخذمابحقهاواوفى الذى عليه فيها.

اې ابوذر! ته کمزورې يې اودا امانت دې، کوم به چه دقيامت په ورځ درسوايئ اوخفګان ذريعه جوړيږي.خودهغه سړي دپاره کوم چه داحق سره اداکړي، اوددې امانت باره کښې خپله ذمه داري پوره کړي( .مسلم)

حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه حضور ﷺ اوفرمائيل

انکم ستحرصون .... الخ.

بې شکه تاسودعهدې دپاره حرص کوئ، اودقيامت په ورځ به دادخفګان ذريعه جوړيږي( .بخاري)

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه اوحضرت ابوسعيد رضي الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل

مابعث الله من نبي ولااستخلف من خليفة الا كانت له بطانتان، بطانة تامره بالمعروف وتحضه عليه وبطانة تامره بالشر وتحضه عليه، والمعصوم من عصمه الله.

الله تعالى چه كوم نبي هم راليږلي دي اوڅوک ئې هم خليفه جوړ كړې دې، خو دهغه دوه رازداراوملګري ئې جوړ كړي دي .يودوست هغه ته دنيكئ حكم اوترغيب كوي اودويم هغه ته دشرنه دبچ پاتې كيدوحكم اوترغيب كوي .اومعصوم هم هغه وى كوم چه الله تعالى محفوظ اوساتي( .بخارى)

دحضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل.

كله چه الله تعالى دحاكم سره دخيرااراده اوفرمائي نوهغه ته ښه وزيروركړي .كله چه ده نه څه هيريږي نووزيرورته يادوي، اوكله چه هغه ته يادوي نووزيرهغه سره مددكوي .اوكله چه الله تعالى حاكم سره دبل څه ځيزاراده اوفرمائي نوهغه دپاره بدوزير مقرر اوفرمائي .كه چرې ده نه څه هيرشي نووزيرئې ورته نه يادوي، اوكه هغه ته يادوي نووزيرئې مددنه كوي( .ابوداؤد)

## نصيحت نمبر۵۵:كورونونه جماتونه جوړكړئ (يعنى مونځ د پاره ېكښې ځائې مقرركړئ)

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه مونږته حضور ﷺ حكم اوفرمائيلو چه مونږ خپل كورونوكښې دمونځ دپاره ځايونه مقرر كړو .اوداچه هغه پاک صفاساتو( .مسنداحمد، ترمذى، ابوداؤد)

حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه فرمائي چه چه مونږته حضور ﷺ حكم اوفرمايۀ مونږخپل كورونوكښې جماتونه جوړ كړو، اومونږته ئې حكم اوفرمائيلوچه هغه پاک اوصفا اوساتو. (ترمذى)

# خاتم الوصايا

زه داخپل وصيتونه دې وصيت باندې ختموم، كوم چه حضرت ابراهيم عليه السلام د محمد ﷺ امت ته فرمائيلې دې. هغه وصيت دادې.

دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چه حضور ﷺ اوفرمائيل.

لقيت ابراهيم عليه السلام بليلة اسرى بى فقال: يامحمداقراء امتک منى السلام واخبرهم ان الجنة لطيبة التربة، عذبة الماء، وانها قيعان، وان عراسها سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اكبر.

دمعراج په شپه باندې زماملاقات حضرت ابراهيم عليه السلام سره اوشو .هغوى اوفرمائيل .اې محمد ﷺ خپل امت ته زما د طرف نه سلام اورسوه.اوهغوى ته اووايه چه دجنت دپاكې خاورې اوخوږو اوبو والاځائې دې اوهغه په صفاميدانونو باندې مشتمل دې .دې كښى ونې كرل سبحان الله، والحمد لله ولااله الا الله والله اكبر دى.

يوروايت كښى دااضافه هم ده.

ولاحول ولاقوة الابالله.

وصلى الله على سيدنامحمدوعلى اله وصحبه وسلم وسلم على المرسلين والحمدلله رب العالمين.

..........

## لس نصيحتونه

۱: څومره چه ممکن وی روزانه دقران کريم تلاوت کوئ، اونبی کريم ﷺ باندې ډيرډيردرود اوسلام ليږئ.

۲: دپنځه وخته مونځونو، تهجداود څاښت پابندی کوئ، که دوه رکعته ولې نه وی.

۳: تاسوباندې چه کوم زکوة فرض وی هغه اداکوئ .اوروزانه صدقه ورکوئ، که کمه هم وی .اوکه داممکن نه وی نودښه خبرې په ذريعه باندې صدقه کوئ، اودرمضان روژې نيسئ .اوهره مياشت کښې درې روژې نيسئ

۴: ايا تاسوداخبره نه خوښوئ، چه الله تعالی تاسوسره مينه اوساتی؟ خپل خوږنبی ﷺ اودحضور ﷺ خاندان والوسره مينه کوئ .اوموررپلارسره ښه سلوک کوئ.

۵: که تاسوغواړئ چه تاسوداسې شئ، چه هم تاسواووايئ چه يارب !يارب !اوالله تعالی جواب درکړی، چه زمابنده زه حاضريم، سوال کوه، تاته به درکولې شی، نوپاک رزق خورئ .ستاسودعابه قبليږی .اودخپل ذات نه خلقوته انصاف رسوئ .اوخلقوسره خوش اخلاقی کوئ.

۶: اياستاسونه ده خوښه چه ستاسودعاقبوله شی .اوستاسو عمل نامه دقيامت په ورځ باندې دنورپه ذريعه باندې اوپړقولې شی .نوخپل زړونه صفاکړئ اولااله الاالله ډير وايئ اودګناهونونه دخان اوټولومومنانودپاره استغفارکوئ . اودالله تعالی دذکرنه مه غافل کيږئ.

۷: ايا تاسونه غواړئ چه الله تعالی ستاسوتعريف اوکړی، شکراوکړئ اودهغه مقرب بندګان جوړشئ .داسې چه کله

بنده الحمد لله وائي نو الله تعالى فرمائي زمابنده زمه تعريف اوكړواوزمه شـكرئي اداكـړو تاسـوالحمدلله وسـلام علـى عباده الذين اصطفى ديرډيرووايئ

٨. اياتاسـونه غـواړئ چـه تاسوشـكركونكي جوړشـئ اوالله تعالى تاسو نيـك جوړكړي. پس ستاسودشـكرد پاره دادوه ايتونه لازم دى.،،رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَصۡلِحۡ لِي فِي ذُرِّيَّتِيٓۖ إِنِّي تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَإِنِّي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿١٥﴾ ،،،،رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَدۡخِلۡنِي بِرَحۡمَتِكَ فِي عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٩﴾ ،،

٩. اياستاسوخوښه نـه ده چـه زه تاسـوته داسـې څيزاوښـايم كـوم چه ستاسودين اودنيادپاره كافي وى. پس څومره چه ممكـن وى دالله تعالى په حكم باندې عمل كوئ.

،،يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْۤ وَٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمۡ وَٱفۡعَلُواْ ٱلۡخَيۡرَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۩ ﴿٧٧﴾ ،،

١٠. اياتاسـونه غـواړئ چـه زه دهريـوڅيزدزړه طـرف تـه ستاسـو راهنمائى اوفرمايم، تاسوواييئ. امنت بالله ثم اسـتقم مـاالله تعالى باندې ايمان راوړو. اوبيادې باندې مضبوط اوسئ.

(( ختم شده ))